# دَ مرقوس په مُطابق دَ مالِک عيسىٰ مسيح زيرے

## دَ يحيىٰ بپتسمه ورکوُونکى اِعلان

متى ۳ : ۱ ـ ۱۲، لُوقا ۳ : ۱ ـ ۱۸، يوحنا ۱ : ۱۹ ـ ۲۸

۱ ۱ دا دَ خُدائے دَ زوئے عيسىٰ مسيح دَ زيرى شروع
ده، ۲ څنګه چه دَ يشعياه نبى په صحيفه کښے ليکلى
دى :

”ګوره! دا زما پيغمبر دے

چه زَهٔ ئے دَ تا نه وړاندے ليږم

اَوُ دَئے به ستا دَ پاره لار تياروى.

۳ په بيابان کښے دَ نعرے وهُونکى آواز راغے

چه دَ مالِک لار تياره کړئ

اَوُ دَ هغهٔ سړکُونه نيغ کړئ.“

۴ اَوُ دغه شان په بيابان کښے بپتسمه ورکوُونکے يحيىٰ
راغے اَوُ اِعلان ئے وکړو چه ”توبه وکړئ اَوُ بپتسمه واخلئ
اَوُ خُدائے به ستاسو ګُناهونه ويخښى.“ ۵ اَوُ دَ يهوديه دَ
وطن ټول خلق اَوُ دَ بيتُ المُقدس اوسيدُونکى هغهٔ ته راغونډ
شول اَوُ هغوئ دَ خپلو ګُناهونو اِقرار وکړو اَوُ هغهٔ دَ اُردن

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سیند په غاړه دَ هغوئ بپتسمه وکړه.

۶ یحییٰ دَ اُوښ دَ وړئ چُوغه اغوستے وه اَؤ دَ څرمنے
پیټئ ئے دَ ملا نه تاؤ کړے وه اَؤ هغهٔ به ملخان اَؤ ځنګلی
ګبین خوړلو. ۷ هغهٔ به دا اِعلان کوو چه "زما نه پس به
هغه سړے راځی چه زما نه زیات زوروَر دے. زَهٔ دَ دے لائق
هم نهٔ یم چه ټیټ شم اَؤ دَ هغهٔ دَ پیزار تسمے پرانزم. ۸ ما
خو په اوبو ستاسو بپتسمه وکړه خو هغه به ستاسو بپتسمه
په رُوحُ القُدس وکړی."

## دَ عیسیٰ بپتسمه اَؤ آزمیښت

متی ۳ : ۱۳ ـ ۴ : ۱۱، لُوقا ۳ : ۲۱ ـ ۲۲، ۴ : ۱ ـ ۱۳

۹ هم په هغه ورځو کښے داسے وشول چه دَ ګلیل دَ
ناصرت نه عیسیٰ راغے اَؤ دَ اُردن دَ سیند په غاړه ئے دَ
یحییٰ نه بپتسمه واخسته. ۱۰ څهٔ وخت چه دَ اوبو نه بهر
راووتو نو هغهٔ آسمانُونه پرانستی ولیدل اَؤ رُوحُ القُدس دَ
کونترے په شکل په هغهٔ باندے نازل شو. ۱۱ اَؤ دَ آسمان نه
یو آواز راغے چه "تهٔ زما محبوب زوئے ئے، ستا نه زَهٔ
رضا یم."

۱۲ سمدستی رُوحُ القُدس هغه بیابان ته واستوو. ۱۳ اَؤ
هلته کښے هغه تر څلویښتو ورځو پورے دَ شیطان په
لمسُون کښے وآزمائیلے شو. هغه دَ ځنګلی ځناورو سره وو
اَؤ فرښتے دَ هغهٔ په خدمت کښے حاضرے وے.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## دَ عیسیٰ مسیح دَ ماهیانو څلور ښکاریان بلل

متی ۴ : ۱۲ ـ ۲۲، لُوقا ۴ : ۱۴ ـ ۱۵، ۵ : ۱ ـ ۱۱

۱۴ هر کله چه یحییٰ ونیولے شو نو عیسیٰ ګلیل ته راغے اَؤ
دَ خُدائے دَ زیری وعظ ئے کولو چه ۱۵ "وخت پُوره شو، دَ
خُدائے بادشاهی په تاسو دَ بره کیدُونکی ده. توبه ګار شئ اَؤ
په زیری ایمان راؤړئ."

۱۶ عیسیٰ دَ ګلیل دریاب په غاړه روان وو چه هغهٔ شمعُون
اَؤ دَ هغهٔ ورور اَندریاس ولیدل چه دَ دریاب په غاړه ئے جال
اچولو ځکه چه هغوئ دَ ماهیانو ښکاریان وُو. ۱۷ عیسیٰ
هغوئ ته ووئیل چه "ما پسے راځئ اَؤ زَهٔ به ستاسو نه دَ بنی
آدمو لټوُونکی جوړ کړم." ۱۸ اَؤ سمدستی هغوئ خپل
جالُونه پریښودل اَؤ په هغهٔ پسے روان شول.

۱۹ کله چه عیسیٰ وړاندے لاړلو نو هغهٔ دَ زبدی زامن،
یعقُوب اَؤ دَ هغهٔ ورور یوحنا ولیدل چه په کشتئ کښے
ناست وُو اَؤ جالُونه ئے مُرمت کول. ۲۰ هغهٔ هغوئ راوبلل
اَؤ هغوئ خپل پلار زبدی دَ مزدُورانو سره په کشتئ کښے
پریښودو اَؤ په هغهٔ پسے روان شول.

## دَ ناپاک رُوح نیولے سړے

لُوقا ۴ : ۳۱ ـ ۳۷

۲۱ دوئ کفرنحوم ته راغلل اَؤ دَ سبت یعنے خالی په ورځ
عیسیٰ عبادت خانے ته لاړو اَؤ هلته ئے تعلیم ورکول شروع
کړل. ۲۲ خلق دَ عیسیٰ په تعلیم حیران شول ځکه چه دَ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شرعے دَ عالمانو په شان نه، بلکه پُوره په اِختيار سره ئے
وئيل.

٢٣ په دغه وخت په عبادت خانه کښے يو سړے وو چه
ناپاک رُوح نيولے وو. هغهٔ چغے کړے، ٢٤ ”اَئے عيسىٰ
ناصرى! ته زمُونږ نه څۀ غواړے؟ تۀ زمُونږ په بربادئ پسے
راغلے يئے څۀ؟ زۀ دِ پيژنم چه ته څوک يئے، تۀ دَ خُدائے
قدُوس يئے.“

٢٥ عيسىٰ هغه ورټلو اَؤ ورته ئے ووئيل چه ”چپ شه اَؤ دَ
دۀ نه راوزه.“

٢٦ اَؤ ناپاک رُوح هغه سړے ډير په عذاب کړو اَؤ په چغه
ترے نه راووتو. ٢٧ هغوئ ټول حق حيران شول اَؤ دَ يو بل
نه ئے تپوس وکړو چه ”دا لا څۀ دے؟ دا خو يو نوے تعليم
دے! هغه په اِختيار سره خبرے کوى اَؤ چه حُکم کوى نو
ناپاک رُوحُونه هم دَ هغهٔ حُکم منى“

٢٨ دا خبره ډيره زر مشهُوره شوه اَؤ دَ ګليل په علاقه کښے
دَ هغهٔ آوازه خوره شوه.

## دَ ډيرو خلقو جوړول

متى ٨ : ١۴ ـ ١٧، لُوقا ۴ : ٣٨ ـ ۴١

٢٩ دَ عبادت خانے نه په راوتو هغوئ نيغ دَ شمعُون اَؤ
اندرياس کره لاړل اَؤ يعقُوب اَؤ يوحنا هم ورسره ملګرى وُو.
٣٠ دَ شمعُون خواښے تبے نيولے وه، په کټ کښے پرته
وه. هغوئ سمدستى دَ هغے دَ بيمارئ حال ورته ووے. ٣١

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عیسیٰ ورغے اَؤ دَ هغے لاس ئے ونیوو اَؤ په پښو ئے
وُدروله اَؤ تبے پریښوه اَؤ دَ هغوئ په خدمت کښے آخته
شوه.

۳۲ هغه ماښام دَ نمر دَ پریوتو نه پس هغوئ ټول رنځُوران اَؤ
پیریانو نیولی خلق عیسیٰ ته راوستل. ۳۳ اَؤ ټوله ښاریه دَ
هغه کور مخے ته راټوله شوه. ۳۴ عیسیٰ ډیر رنځُوران جوړ
کړل چه په قِسم قِسم رنځُونو آخته وُو اَؤ ډیر پیریان ئے
وشړل. هغهٔ پیریان خبرو ته پرے نهٔ ښول ځکه چه هغوئ
پیژندو چه دا څوک دے.

## په کلو کښے په ګرزیدو وعظ کول

لُوقا ۴ : ۴۲ ـ ۴۴

۳۵ سحر وختی دَ نمر ختو نه وړاندے عیسیٰ پاڅیدو اَؤ بهر
لاړو. هغه ځان له یو خوشی ځائے ته لاړو اَؤ هلته ئے دُعا
کوله. ۳۶ خو شمعُون اَؤ دَ هغهٔ ملګری ورپسے لاړل، ۳۷
وئے مُوندو اَؤ ورته ئے ووئیل چه "ټول خلق ستا په تلاش
کښے دی."

۳۸ هغهٔ جواب ورکړو چه "راځئ چه نزدے کلو ته لاړ شُو
چه زَهٔ هلته هم خپل پیغام واؤروم ځکه چه زَهٔ هم په دغه
غرض راوتلے یم."

۳۹ نو هغه په ټول ګلیل کښے وګرزیدلو، په عبادت خانو
کښے ئے کلام آؤروو اَؤ پیریان ئے ویستل.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## دَ يو جُذامى پاکول

متى ٨ : ١ ـ ۴، لُوقا ۵ : ١٢ ـ ١۶

۴٠ عيسىٰ ته يو جُذامى راغے، دَ هغۀ په پښو پريوتو،
خواست ئے ترے وکړو چه ”که ته غواړے نو ما پاکولے
شے.“

۴١ دَ عيسىٰ زړۀ په هغۀ وسوزيدلو، خپل لاس ئے وراُوږد
کړلو، مسح ئے کړو اَؤ وئے وئيل چه ”بے شکه زَۀ غواړم،
پاک شه.“ ۴٢ اَؤ دَ هغۀ نه جُزام سمدستى لرے شو اَؤ هغه
پاک شو. ۴٣ بيا عيسىٰ هغه دَ دے سخت حُکم سره
رُخصت کړو، ۴۴ ”خيال ساته چه دا حال چا ته ونۀ وائے.
لاړ شه خپل ځان کاهن ته وښايه اَؤ دَ مُوسىٰ مُقرره کړے
نذرانه هغۀ ته پيش کړه، دا به ستا دَ روغتيا شاهدى وى.“

۴۵ خو هغه سړے بهر لاړو اَؤ دَ دے قصے نه ئے ټول
خلق خبر کړل. دا خبره ئے تر لرے لرے خوره کړه تر دے
چه عيسىٰ به يو ښار ته هم په ښکاره نۀ شو تلے اَؤ بهر به په
خوشو ځايُونو کښے پاتے کيدو. خو بيا به هم خلق دَ هر
لورى نه هغۀ ته راتلل.

## دَ يو شل سړى روغول

متى ٩ : ١ ـ ٨، لُوقا ۵ : ١٧ ـ ٢۶

٢ ١ څو ورځے پس چه عيسىٰ کفرنحوم ته واپس شو نو
خلق خبر شول چه هغه په کور کښے دے. ٢ اَؤ دومره
خلق ورته راټول شول چه دَ دروازے نه بهر نۀ ځائيدل. اَؤ څۀ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وخت چه هغهٔ هغوئ ته پیغام آؤرولو، ۳ نو یو شل سړے
څلورو کسانو راپورته کړے وو اَؤ هغهٔ ته ئے راؤړو. ۴
خو دَ ګڼې له کبله ئے هغهٔ ته نزدے نهٔ کړے شُو، نو هغوئ
دَ کوټے چت په هغه ځائے کښے سُورے کړو چرته چه
عیسیٰ وو اَؤ په هغه سُوری کښے ئے هغه شل سړے په
بانګئ کښے دَ هغهٔ مخے ته ورښکته کړو. ۵ کله چه
عیسیٰ دَ هغوئ دا عقیده ولیده نو هغه شل سړی ته ئے
ووئیل، ”زما زویه! ستا ګُناهونه معاف شول.“

۶ هلته په دغه موقعه یو څو دَ شرعے عالمان ناست وُو،
هغوئ دَ ځان سره ووئیل چه ۷ ”دا سړے داسے خبرے
ولے کوی؟ دا خو کُفر دے! دَ خُدائے نه بغیر هم لا څوک دَ
چا ګُناهُونه بخښلےشی څهٔ؟“

۸ سمدستی عیسیٰ پوهه شو چه دوئ په زړهٔ کښے څهٔ
خیال کوی اَؤ هغوئ ته ئے ووئیل چه ”تاسو داسے خیالُونه
په زړهٔ کښے ولے راولئ؟ ۹ آیا دا خبره آسانه ده چه زَهٔ
دے شل سړی ته ووایم چه ستا ګُناهُونه معاف شول، اَؤ که
دا ووایم چه پاڅه خپل کټ واخله اَؤ روان شه؟ ۱۰ خو
ستاسو دَ پوهے دَ پاره چه اِبن آدم هم په مزکه باندے دَ
ګُناهونو دَ معاف کولو اِختیار لری،“ هغهٔ شل سړی ته مخ
راواړَولو اَؤ ورته ئے ووئیل، ۱۱ ”زَهٔ تا ته وایم، پاڅه! خپل
کټ واخله اَؤ کور ته لاړ شه.“

۱۲ اَؤ هغه پاڅیدو، سمدستی ئے خپل کټ واخستو اَؤ دَ
ټولو په مخکښے روان شو. دغه شان هغه ټول حیران پاتے
شول اَؤ دَ خُدائے ثنا ئے ووئیله. هغوئ ووئیل چه ”داسے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کار خو مُونږ چرے هم نۀ وو لیدلے."

## دَ محصولچی بلنه

متی ۹ : ۹ ـ ۱۳، لُوقا ۵ : ۲۷ ـ ۳۲

۱۳ عیسیٰ یو ځل بیا دَ دریاب غاړے ته لاړو، ګڼ خلق ورته
راغلل اَؤ هغۀ هلته ورته تعلیم ورکړو. ۱۴ هر کله چه هغه تلو
نو هغۀ دَ حلفئ زوئے لیوی دَ محصُول په څوکئ ناست
ولیدو اَؤ ورته ئے ووئیل چه "ما پسے راځۀ،" لیوی پاڅیدو
اَؤ ورپسے روان شو.

۱۵ کله چه عیسیٰ دَ هغۀ په کور کښے ډوډئ ته ناست وو
نو ډیر ګُناه ګاران اَؤ محصُولچیان اَؤ دَ هغۀ مُریدان ورسره
خوراک ته ناست وُو، نو ډیر خلق ورپسے وُو. ۱۶ څنو
فریسیانو اَؤ دَ شرعے عالمانو چه دا ولیدل چه هغه دَ
محصُولچیانو اَؤ ګُناه ګارانو په ډله کښے ناست دے،
ورسره ډوډئ خوری، نو دَ هغۀ مُریدانو ته ئے ووئیل چه
"دَئے خو دَ محصُولچیانو اَؤ ګُناه ګارانو سره ډوډئ
خوری!"

۱۷ عیسیٰ دا خبره واؤریده اَؤ دوئ ته ئے ووئیل چه "روغ
ته دَ طبیب حاجت نشته خو رنځُور ته ئے شته. زَۀ دے ته نۀ
یم راغلے چه صادِقان ویلم بلکه ګناهګاران."

## دَ روژے په باب کښے

متی ۹ : ۱۴ ـ ۱۷، لُوقا ۵ : ۳۳ ـ ۳۹

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۸ یو ځلې چه دَ یحیئ مُریدانو اَؤ دَ فریسیانو روژه وه نو
ځنی خلق ورته راغلل اَؤ وئې وئیل چه "څهٔ وجه ده چه دَ
یحیئ مُریدان اَؤ دَ فریسیانو مُریدان خو روژه نیسی، ولې
ستا مُریدان ئې نهٔ نیسی؟"

۱۹ عیسیٰ هغوئ ته ووئیل، "کله چه دَ وادهٔ زلمے دَ
جنجیانو سره وی نو هغوئ روژه نیولے شي څه؟ تر څو
پورې چه دَ وادهٔ زلمے دَ دوئ سره وی نو دوئ به روژه نهٔ
نیسی. ۲۰ خو وخت به راشی چه دَ وادهٔ زلمے به دَ دوئ نه
بیل کړے شی اَؤ په هغه ورځ به دوئ روژه نیسی.

۲۱ هیڅوک هم نوے پیوند په زړه چُوغه کښې نهٔ لګوی، اَؤ
که څوک داسې کوی نو پیوند به وشلیږی اَؤ نوے به دَ زاړهٔ
نه لوئې سُورے کوی. ۲۲ هیڅوک هم نوی شراب په زړو
مشکُونو کښې نهٔ اچوی. که څوک داسې کوی نو شراب به
ئې مشکُونه وشلوی، شراب اَؤ مشکُونه دواړه به ضائع شی.
خو نوی شراب په نوو مشکُونو کښې اچوی."

## دَ سبت په ورځ وړی شُو کول

متی ۱۲ : ۱ ـ ۸، لُوقا ۶ : ۱ ـ ۵

۲۳ دَ یو سبت په ورځ چه عیسیٰ دَ فصل په یو پټی تیریدو نو
په تلو تلو کښې دَ هغهٔ مُریدانو وَړی وشُو کول. ۲۴
فریسیانو هغهٔ ته ووئیل چه "وګوره! کُوم کار چه دَ سبت په
ورځ منع دے، دوئ هغه ولې کوی؟"

۲۵ هغهٔ جواب ورکړو چه "تاسو چرې دا لوستلی نهٔ دی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چه څۀ وخت داؤد اَؤ دَ هغۀ ملګری وږی شوی وُو ۲۶ اَؤ دَ
خوراک هیڅ ورسره نۀ وُو نو څۀ ئے وکړل؟ هغه دَ ابیاتار دَ
مشر کاهن په زمانه کښے دَ خُدائے کور ته ننوتو اَؤ دَ
نذرانے ډوډئ ئے وخوړله، سره دَ دے چه بغیر دَ کاهنانو نه
بل هیچا ته هغه خوراک حلال نۀ دے اَؤ لا دا چه خپلو ملګرو
ته ئے هم ورکړه.“

۲۷ هغۀ ورته دا هم ووئیل چه ”سبت دَ بنی آدم دَ پاره جوړ
شوے دے، نۀ چه بنی آدم دَ سبت دَ پاره. ۲۸ ځکه اِبن آدم
هم دَ سبت دَ ورځے مالِک دے.“

## دَ وچ لاسی سړی روغول

متی ۱۲ : ۹ ـ ۱۴، لُوقا ۶ : ۶ ـ ۱۱

۳ ۱ په بله موقعه چه عیسیٰ عبادت خانے ته ننوتو نو په
ګڼه کښے یو داسے سړے وو چه لاس ئے وچ شوے وو.
۲ اَؤ هغوئ دا کتل چه عیسیٰ به دَ سبت په ورځ هغه جوړ
کړی اَؤ که نه، ځکه چه هغوئ به دَ هغۀ خلاف اِلزام لګولو ته
تیار ناست وُو. ۳ هغۀ وچ لاسی سړی ته ووئیل چه ”راشه،
په مینځ کښے ودریږه.“ ۴ بیا ئے هغوئ ته مخ ورواړوو
اَؤ وئے وئیل چه ”دَ سبت په ورځ ښۀ کول روا دی که بد
کول، دَ چا بچ کول روا دی که وژل؟“

خو هغوئ چُپ پاتے شول. ۵ دَ دوئ دَ سختو زړُونو په
وجه ئے په غُصه اَؤ اَفسوس ټولو ته وکتل اَؤ هغه سړی ته
ئے ووئیل چه ”خپل لاس وغزوه.“ هغۀ لاس وغزولو اَؤ جوړ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شو. ۶ خو فریسیان دَ عبادت خانے نه بهر لاړل، نو
سمدستی دَ هیرودیانو سره په دے سازش آخته شول چه هغه
به څنګه وژنُو.

## دَ دریاب په غاړه ګڼ خلق

۷ عیسیٰ دَ خپلو مُریدانو سره دَ دریاب غاړے ته لاړو. ۸
دَ ګلیل، یهُودا، دَ بیتُ المُقدس، اِدُومیه اَؤ دَ شرق اُردن، دَ
صور اَؤ صیدا دَ خوا اَؤ شا نه ډیر خلق دَ هغهٔ لیدو له ورغلل
ځکه چه هغوئ دا آؤریدلی وُو هغه عجیبه کارُونه کوی. ۹
نو هغهٔ خپلو مُریدانو ته ووئیل چه "ما دَ پاره یوه کشتئ تیاره
ساتئ چه دَ ګڼے دَ تیل نه ځان بچ کړم." ۱۰ هغهٔ دومره ډیر
رنځُوران روغ کړی وُو چه هر قِسم خلق ورمات شول چه دَهٔ
له لاس وَروړی. ۱۱ اَؤ چه پیریانو به دَئے ولیدلو نو راپړے
به وتل اَؤ چغے به ئے کړے چه "تهٔ دَ خُدائے زوئے یئے."

۱۲ خو هغهٔ به ورته په کلکه ووئیل چه "ما مه ښکاره کوئ."

## دَ عیسیٰ دولس رَسُولان

متی ۱۰ : ۱ ـ ۴، لُوقا ۶ : ۱۲ ـ ۱۶

۱۳ بیا عیسیٰ یو غر ته لاړو اَؤ هغه سړی ئے راوُبلل کُوم
ئے چه خوښ کړی وُو اَؤ هغوئ ورغلل. ۱۴ هغهٔ دولس تنه
رسُولان مُقرر کړل، څوک چه به دَ هغهٔ سره وی اَؤ بهر به دَ
وعظ دَ پاره لیږلے شی، ۱۵ اَؤ چه دَ پیریانو دَ ایستلو اِختیار
به هم لری.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۶ نو هغهٔ دولس تنه مُقرر کړل چه هغه دا دی، په شمعُون
ئے پطروس نُوم کيښودلو، ۱۷ بيا دَ زبدی زامن يعقُوب اَؤ
دَ هغهٔ ورور يوحنا راغلل چه په هغوئ ئے بوانر گس يعنے دَ
تندر زامن نُوم کيښودلو، ۱۸ بيا اَندرياس، فيليپوس اَؤ
برتلمائ اَؤ متی اَؤ توما اَؤ دَ حلفئ زوئے يعقُوب اَؤ تدی اَؤ
شمعُون ننگيالے، ۱۹ اَؤ يهوداه اسکريوتی هغه سړے چه په
دَهٔ يے مُخبری وکړله.

## عيسیٰ اَؤ بعلزبول

متی ۱۲ : ۲۲ ـ ۳۲، لُوقا ۱۱ : ۱۴ ـ ۲۳، ۱۲ : ۱۰

۲۰ عيسیٰ يو کورته ننوتو اَؤ يو ځل بيا دومره خلق پرے
راټول شول چه دوئ ډوډئ قدرے هم نهٔ شوه خوړلے. ۲۱
هر کله چه دَ هغهٔ خپلوانو دا واؤريدل نو هغوئ لاړل چه هغه
تر لاسه کړی ځکه چه خلقو به وئيل چه ”هغه په خود کښے
نهٔ دے.“

۲۲ کُوم دَ شرعے عالمان چه دَ بيتُ المُقدس نه راغلی وُو،
هغوئ به هم وئيل چه دَ هغهٔ سره بعلزبول دے اَؤ دَئے دَ
پيريانو دَ شهزاده په مدد پيريان وباسی.

۲۳ نو عيسیٰ هغوئ راوبلل اَؤ په مِثالُونو کښے ئے ورته
ووئيل چه ”شيطان څنگه شيطان ويستلے شی؟ ۲۴ که په
يوه بادشاهئ کښے دَ ننه مُخالفت پيدا شی نو هغه بادشاهی
پاتے کيدے نهٔ شی. ۲۵ که په يو کور کښے نفاق راشی نو
هغه کور هم هيڅ کله پاتے کيدے نهٔ شی. ۲۶ اَؤ که چرے
شيطان له ځان نه خلاف شی نو هغه هم بے اِتفاقه شی اَؤ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پاتے کیدے نهٔ شی اَؤ دا دَ هغهٔ خاتمه ده.

٢٧ خو هیڅوک هم دَ زورور په کور په زور ننوتے نهٔ شی اَؤ
دَ هغهٔ سامان تالا کولے نهٔ شی تر څو چه هغه زورور سړے
ئے تړلے نهٔ وی، بیا دَ هغهٔ کور لُوټلے شی.

٢٨ زَهٔ تاسو ته دا رښتیا وایم چه یوه ګُناه اَؤ یو کُفر هم
داسے نِشته چه هغه بخښلے کیدے نهٔ شی. ٢٩ خو هر
څوک چه په رُوحُ القُدس باندے کُفر وائی هغه به هیڅ کله هم
معافی ونهٔ مُومی اَؤ هغه به دَ تل عُمری ګُناه مُجرم وی.“ ٣٠
هغهٔ دا ځکه ووئیل چه هغوئ دا وئیل چه ”دے ناپاک رُوح
نیولے دے.“

## دَ عیسیٰ مور اَؤ ورُوڼه

متی ١٢ : ٤٦ ـ ٥٠، لُوقا ٨ : ١٩ ـ ٢١

٣١ بیا دَ عیسیٰ مور اَؤ ورُوڼه ورغلل اَؤ بهر ولاړ وُو اَؤ
څوک ئے ورواستولو چه هغه دِ راوبلی. ٣٢ ګڼ خلق ترے
چاپیره ناست وُو اَؤ هغوئ ورته ووے چه ”ګوره، ستا مور
اَؤ ورُوڼه بهر ولاړ دی اَؤ ستا پوښتنه کوی.“

٣٣ هغهٔ جواب ورکړو چه ”زما مور اَؤ زما ورُوڼه څوک
دی؟“ ٣٤ اَؤ هغه ګیر چاپیر ناستو خلقو ته ئے وکتل اَؤ
وئیے وئیل چه ”زما مور اَؤ ورُوڼه دا دی! ٣٥ څوک چه دَ
خُدائے په مرضئ ځی هغه زما ورور خور اَؤ مور ده.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## دَ کروندے مِثال

متی ۱۳ : ۱ ـ ۹، لُوقا ۸ : ۴ ـ ۸

۴ ۱ عیسیٰ دَ دریاب په غاړه تعلیم ورکول شروع کړو اَؤ
دومره خلق ورته راغونډ شوی وُو چه هغه په دریاب کښے
کشتئ ته وختلو اَؤ هلته کښیناستو اَؤ ټول خلق دَ دریاب تر
غاړے راپنډ وُو. ۲ اَؤ هغهٔ هغوئ ته په مِثالونو کښے ډیر
تعلیم ورکړو. هغهٔ چه تعلیم ورکاوو نو وئے وئیل،

۳ "واؤرئ! یو زمیندار کروندے ته لاړو. ۴ اَؤ داسے
وشول چه دَ کرلو په وخت څئنے تُخم په لاره پریوتو اَؤ مرغئ
راغلے، هغه ئے وخوړلو. ۵ څهٔ تُخم په کاڼیزه مزکه
پریوتو چرته چه لږه خاوره وه، هغه سمدستی راوټوکیدو
ځکه چه خاؤره کمه وه. ۶ خو چه نمر راوختلو نو تنکے
فصل وسوزیدلو اَؤ هر کله چه جرړے ئے نهٔ وے نو وچ
شو. ۷ څهٔ تُخم په جاړو کښے پریوتو اَؤ چه جاړے لوئے
شوے نو فصل ئے پټ کړو اَؤ بار ئے ونهٔ نیوو. ۸ اَؤ څهٔ
تُخم په ښه مزکه کښے پریوتو چرته چه هغه راوټوکیدلو اَؤ
لوئے شو اَؤ دانے ئے ونیولے اَؤ بار ئے یو په دیرش یو په
شپیتهٔ اَؤ یو په سل راؤړو."

۹ هغهٔ بیا ووئیل، "که څوک دَ آؤریدو غوږُونه لری نو دا دِ
واؤری."

## دَ مِثال مطلب

متی ۱۳ : ۱۰ ـ ۱۷، لُوقا ۸ : ۹ ـ ۱۰

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۰ هر کله چه عیسیٰ یواځې شو نو دولسو مُریدانو اَؤ نور
چه ورسره وُو، هغوئ دَ مِثالُونو په حقله تپوس وکړو. ۱۱
هغهٔ جواب ورکړو چه "تاسو ته دَ خُدائے دَ بادشاهئ راز
درکړے شوے دے خو هغه څوک چه بهر دی، هغوئ ته به
هره خبره په مِثالونو کښې کیږی. ۱۲ لکه چه صحیفې
وائی :

هغوئ به ګوری اَؤ ګوری به خو وُبه نهٔ وینی،

هغوئ به آؤری اَؤ آوری به خو پوهیږی به نه،

ګنی هغوئ به خُدائے ته رجُوع وکړی

اَؤ ویه بخښلے شی."

## دَ کرُونکی مِثال تشریح کول

متی ۱۳ : ۱۸ ـ ۲۳، لُوقا ۸ : ۱۱ ـ ۱۵

۱۳ بیا عیسیٰ ووئیل، "آیا تاسو په دے مِثال پوهه نهٔ شوئ؟
نو بیا به تاسو په نورو مِثالُونو څنګه پوهه شئ؟ ۱۴ زمیندار
کلام کری. ۱۵ دَ لارے په غاړه هغه خلق دی چرته کلام
کرلے کیږی، اَؤ چه کلام واؤری نو شیطان سمدستی راشی
اَؤ کرلے شوے کلام دَ دوئ نه یوسی. ۱۶ دغسے هم هغه
دی چه په کاڼیزه مزکه کرلی شوی دی، څنګه چه دوئ کلام
واؤری نو په خوشحالئ ئے سمدستی قبول کړی. ۱۷ خو په
هغوئ کښې جرړے ونهٔ نیسی، نو دَ زغم طاقت په کښې نهٔ
وی اَؤ هر کله چه دَ کلام په وجه په هغوئ تنګسیا یا څهٔ
تکلیف راشی نو سمدستی تیندک وخوری. ۱۸ نور هغه دی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چه په جاړو کښې تُخم وکرلے شو. هغوئ کلام واؤرى، ١٩
خو دُنياوى غم اَؤ دَ دولت فريبى شان اَؤ قِسم قِسم بد
خواهشات په مينځ کښې راشى اَؤ دَ کلام مرئ خپه کړى اَؤ
هغه شنړ پاتې شى. ٢٠ اَؤ بيا هغه خلق دى چه تُخم ئے په
ښه مزکه پريوتو، دوئ کلام واؤرى اَؤ قبول ئے کړى اَؤ يو په
ديرش، يو په شپيتۀ اَؤ يو په سل بار راؤړى.“

## دَ اوړى دَ لاندے رڼا

لُوقا ٨ : ١٦ ـ ١٨

٢١ عيسىٰ هغوئ ته ووئيل، ”آيا تاسو ډيوه دَ دے دَ پاره
راؤړئ چه دَ اوړى يا دَ کټ لاندے ئے کيږدئ؟ نه، تاسو دا
په ډيوټ باندے کيږدئ. ٢٢ خو هيڅ څيز دومره پټ نۀ دے
چه دَ هغۀ ښکاره کول مناسب نۀ وى اَؤ هيڅ څيز داسے راز
نۀ دے چه دَ هغۀ معلُومول مقصود نۀ وى. ٢٣ که څوک دَ
آؤريدلو غوږُونه لرى نو وا دِ ورى.“

٢٤ عيسىٰ دا هم ووئيل، ”پام کوئ چه څۀ آؤرئ، په کُوم
ميچ چه تاسو ورکوئ په هغه ميچ به ئے مُومئ، بلکه څۀ لږ
زيات. ٢٥ ځکه چه څوک چه څۀ لرى هغۀ ته به نور هم
ورکړے شى، خو دَ کُوم سړى سره چه څۀ نۀ وى هغۀ نه به
هغه لږ څۀ هم واخستے شى چه ورسره وى.“

## دَ تُخم دَ زرغونيدلو مِثال

٢٦ عيسىٰ ووئيل، ”دَ خُدائے بادشاهى داسے ده چه يو
سړے په مزکه تُخم کرى. ٢٧ هغه دَ شپے اُودۀ شى اَؤ سحر

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پاڅی اَؤ تُخم زرغُون شی اَؤ لوئے شی. دا څرنګه؟ هغه په
دے نۀ پوهیږی. ۲۸ مزکه له ځان نه غله پخپله پیدا کوی،
وړُومبے تیغ، بیا وَږی اَؤ بیا په وَږی کښے تیارے دانے.
۲۹ خو هر کله چه فصل پوخ شی نو هغه ورپسے لور
راواخلی ځکه چه دَ فصل دَ ریبلو وخت راغلے وی.“

## دَ شړشمو دَ تُخم مِثال

متی ۱۳ : ۳۱ ـ ۳۲، ۳۴، لُوقا ۱۳ : ۱۸ ـ ۱۹

۳۰ عیسیٰ دا هم ووئیل، ”مُونږ به دَ خُدائے دَ بادشاهئ په څۀ
څیز سره مُقابله وکړُو؟ یا په کُوم مِثال به ئے بیان کړُو؟ ۳۱
دا لکه دَ شړشمو دَ تُخم دے چه دَ کرلو په وخت په مزکه
کښے دَ بل هر تُخم نه ورکوتړے وی، ۳۲ خو چه په یو وار
راوټُوکیږی اَؤ دَ نورو ټولو بوټو نه لوئے شی اَؤ دومره لوئے
څانګے وکړی چه دَ هوا مرغئ ئے په سوری کښے کښینی.“

۳۳ هغۀ به کلام دغسے په ډیرو مِثالُونو ورته آوروو څومره
چه هغوئ پوهیدل. ۳۴ هغۀ دَ هغوئ سره دَ مِثالُونو نه بغیر
کلام ونۀ کړو خو په کور کښے ئے خپلو مُریدانو ته هر څۀ
واضح کړل.

## په دریاب کښے طوفان منع کول

متی ۸ : ۲۳ ـ ۲۷، لُوقا ۸ : ۲۲ ـ ۲۵

۳۵ په هغه ورځ ماښام هغۀ هغوئ ته ووئیل، ”راځئ چه دَ
دریاب پورے غاړے ته لاړ شُو.“ ۳۶ هغوئ ګڼه پاتے کړه
اَؤ هغه ئے دَ ځان سره په کشتئ کښے بوتلو په کُومه کِشتئ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کښے چه هغه ناست وُو اَؤ نورے کِشتئ هم ورسره وے.
۳۷ زورَوره سیلئ راغله، چپو کِشتئ داسے ووهله چه اوبۀ
ورته راوختے. ۳۸ هغه وروستو په بالښت اُودۀ وو. هغوئ
هغه راپاڅوو اَؤ ورته ئے ووئیل، "مالکه! مُونږ ډُوبیږو! تا
سره څۀ غم نِشته؟" ۳۹ هغه بیدار شو، باد ئے ورټو اَؤ
دریاب ته ئے ووئیل چه "غلے قلار شه!" باد ودریدو اَؤ
قلاره قلارى شوه. ۴۰ هغۀ هغوئ ته ووئیل چه "تاسو دومره
ویریدُونکی ولے یئ، تاسو لا اوس هم عقیده نۀ لرئ؟"

۴۱ هغوئ ویرے اخستی وُو اَؤ یو بل ته ئے ووئیل، چه "دا
لا څوک دے چه باد اَؤ دریاب ئے هم حُکم منی."

## دَ پیریانو نیولے جوړول

متی ۸ : ۲۸ ـ ۳۴، لُوقا ۸ : ۲۶ ـ ۳۹

**۵** ۱ اَؤ هغوئ دَ دریاب بلے غاړے ته راغلل، دَ
ګراسینیانو وطن ته. ۲ چه عیسیٰ دَ کِشتئ نه راکُوز شو نو
یو سړے چه پیریانو نیولے وو اَؤ په قبرُونو کښے اوسیدو،
راووتو اَؤ هغۀ له راغے. ۳ اَؤ هغه هیچا هم قابو کولے نۀ
شو، عن تر دے چه په زنځیرُونو کښے هم نۀ شو تړلے
کیدے. ۴ ځکه چه هغۀ ته ئے څو څو واره زنځیرُونه اَؤ
ځولنے اچولے وے خو هغۀ زنځیرونه شلولی وُو اَؤ ځولنے
ئے ماتے کړے وے اَؤ دومره طاقتور هیڅوک نۀ وو چه
هغه ئے قابو کړے وَئے. ۵ اَؤ ورځ اَؤ شپه به هغۀ په
قبرُونو اَؤ دَ غرُونو په خوا کښے چغے ویستے اَؤ ځان به
ئے په ګټو ژوبلولو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶ هر کله چه هغهٔ دَ ورایه عیسیٰ ولیدلو نو هغهٔ وردؤ کړل
اَؤ سجده ئے ورته وکړه، ۷ اَؤ په چغو ئے ووئیل، "اَئے
عیسیٰ! دَ لوئے خُدائے زویه! تهٔ زما نه څهٔ غواړے؟ دَ
خُدائے په رُوئے ما مه غذابوه." ۸ دا ځکه چه عیسیٰ بیا
دَهٔ ته دا ووئیل، "اَئے ناپاکه رُوحه! دَ دے سړی نه لرے
شه."

۹ عیسیٰ دَ هغهٔ نه تپوس وکړو چه "ستا څهٔ نُوم دے؟"

هغهٔ ووئیل چه "زما نُوم لښکر دے، مُونږ ډیر کسان یُو." ۱۰
اَؤ هغهٔ ورته ډیره زاری وکړه چه عیسیٰ به مُونږ دَ مُلک نه نهٔ
شړی.

۱۱ نو هلته دَ غرهٔ په خوا کښے دَ خنزیرانو یو لوئے کنډک
څریدو. ۱۲ اَؤ پیریانو هغهٔ ته دا سوال وکړو چه "مُونږ
خنزیرانو ته ولیږه اَؤ ورننه وتو ته مو پریږده." ۱۳ هغهٔ
اِجازت ورکړو اَؤ پیریان راووتل اَؤ په خنزیرانو کښے
ورننوتل اَؤ خوا اَؤ شا دَ دوه زره خنزیرانو دغه کنډک له کمر
نه ښکته په دریاب کښے ورغُوپه شو اَؤ ډوب شو.

۱۴ دَ کنډک شپُونکی په تیښته لاړل اَؤ دا خبر ئے ښارئے اَؤ
خوا اَؤ شا کلو ته ورسوو اَؤ خلق دَ دے واقعے تماشے له
راووتل. ۱۵ هغوئ عیسیٰ له راغلل اَؤ هغه لیونے چه دَ
پیریانو لښکر نیولے وو ئے ولیدو چه هلته ناست وو اَؤ سم
دم وو اَؤ هغوئ تول ویرے واخستل. ۱۶ تماشه کوُونکو
خلقو ته ووئیل چه څرنګ دغه سړے روغ شو اَؤ دَ خنزیرانو
سره څهٔ وشول. ۱۷ بیا هغوئ عیسیٰ ته ووئیل چه "دَ دے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

علاقې نه لاړ شه.“

۱۸ څهٔ وخت چه عيسىٰ کِشتۍ ته ورختو نو کُوم سړے چه
پيريانو نيولے وو، هغهٔ هم ورسره دَ ملګرتيا دَ پاره سوال
وکړو.

۱۹ عيسىٰ دَ دے اِجازت ورنهٔ کړو اَؤ ورته ئے ووئيل چه
”کور ته لاړ شه اَؤ خپلو خلقو ته ووايه چه مالِک په خپل رحم
ستا دَ پاره څهٔ وکړل.“

۲۰ هغه سړے لاړو اَؤ دِ کپولس په علاقه کښے ے دغه
خبر خور کړو اَؤ هغه ټول حال ئے ووئيلو، څهٔ چه عيسىٰ دَ
هغهٔ دَ پاره کړى وُو اَؤ ټول خلق حق حيران شول.

## دَ يائير لُور اَؤ هغه ښځه چه دَ عيسىٰ چُوغے له ئے لاس وروړو

متى ۹ : ۱۸ ـ ۲۶، لُوقا ۸ : ۴۰ ـ ۵۶

۲۱ کله چه عيسىٰ دَ درياب بلے غاړے ته په کشتۍ
وريورے وتو نو يوه لويه ګڼه ترے بيا راچاپيره شوه. اَؤ هغه
لا دَ درياب په غاړه وو ۲۲ چه دَ عبادت خانے يو مشر چه
يائير نُوم ئے وو ورله راغے اَؤ څهٔ وخت چه ئے هغه وليدو
نو سجده ئے ورته وکړه اَؤ سوال ئے وکړو. ۲۳ اَؤ وئے
وئيل، ”زما وړه لُور په مرګى حال ده. زَهٔ درته دا سوال کوم
چه تهٔ راشه، هغے ته لاس وروړه، روغه ئے کړه اَؤ ژوند ئے
بچ کړه.“ ۲۴ عيسىٰ دَ هغهٔ سره لاړو. ډير خلق ورسره
ملګرى وُو، ګڼه لا هم دومره زياته وه چه په هغهٔ به ټيل راتلو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۵ په هغوئ کښې يوه ښځه هم وه چه دَ دولسو کالو
راسې ئې وينه بهيدله. ۲۶ اَؤ سره دَ ډيرو طبيبانو دَ دارو
درملو چه هغې پرې خپل هر څۀ سره خلاص کړى وُو خو
هيڅ فرق ئې نۀ وو کړې اَؤ مرض ئې رو رو لا سيوا کيدو.
۲۷ هغې دَ عيسىٰ په حقله دَ خلقو خبرې آؤريدلې وې، نو
هغه دَ شا دَ طرفه په ګڼه کښې راغله اَؤ دَ هغۀ چُوغې له ئې
لاس وروړو. ۲۸ ځکه چه هغې په زړۀ کښې دا وئيل، ”که
زَۀ ئې ايله چُوغې ته هم لاس وروړم نو زَۀ به روغه شم.“

۲۹ هم په هغه ساعت دَ ښځې وينه بنده شوه اَؤ په ځان
پوهه شوه چه دَ عذاب نه خلاصه شوه. ۳۰ په هغه ساعت
عيسىٰ هم په ځان پوهه شو چه دَ هغۀ نه يو طاقت راووتو.
ګڼې ته ئې مخ راواړوو اَؤ تپوس ئې وکړو چه ”زما جامو
ته چا لاس وروړو؟“ ۳۱ دَ هغۀ مُريدانو هغۀ ته ووئيل، ”تۀ دا
ګڼه په خپله وينې چه ستا طرف ته ټيل وهى، اَؤ بيا هم دا
تپوس کوې چه دا ما له چا لاس راؤړو؟“

۳۲ هغۀ ګير چاپيره وکتل چه وګورى چه دا څوک وو. ۳۳
اَؤ هغه ښځه چه په ځان پوهه شوه چه په هغې څۀ شوى
دى، دَ ويرې نه رپيده راغله، هغۀ ته ئې سجده وکړه، ټول
حال ئې ورته ووئيلو. ۳۴ هغۀ ورته ووئيل، ”زما لُورې! ته
خپلې عقيدې جوړه کړې. ځه، سلامته اوسه اَؤ دَ دې
عذابه خلاصه يئې.“

۳۵ عيسىٰ لا دا خبرې کولې چه دَ عبادت خانې دَ مشر دَ
کوره هغۀ له خبر راغې چه ستا لُور مړه شوله، اوس اُستاذ
له تکليف څله ورکوې؟

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۶ خو عیسیٰ چه دا خبره واؤریده نو دَ عبادت خانے مشر
ته ئے ووئیل، "ویرېږه مه، خو یقین کوه." ۳۷ دَ دے نه پس
هغهٔ بغیر دَ پطروس، یعقُوب اَؤ دَ یعقُوب ورور یوحنا نه بل
څوک ځان سره بو نهٔ تلل. ۳۸ هغوئ دَ عبادت خانے دَ
مشر کور ته ورغلل. هلته هغهٔ ډیر لوئے ماتم ولیدلو چه په
چغو چغو ئے ژړل اَؤ ځانُونه ئے وهل. ۳۹ خو عیسیٰ دَ ننه
ورغے اَؤ هغوئ ئے ته ووئیل، "دا څهٔ ژړا ګانے اَؤ ویر ګډ
دے؟ جینئ خو مړه نهٔ ده، هغه خو اُوده ده."

۴۰ هغوئ ورپورے خندا وکړه. خو چه ټول خلق ئے بهر
کړل نو هغهٔ دَ جینئ پلار مور اَؤ خپل ملګری دَ ځان سره
کړل اَؤ هغه ځائے ته ورغلل چرته چه جینئ پرته وه. ۴۱ بیا
ئے دَ لاسه ونیوه اَؤ هغے ته ئے ووئیل، "تلیتا قومی،" چه
مطلب ئے دا دے، پاڅه زما بچئ!

۴۲ جینئ سمدستی پاڅیده اَؤ روانه شوه. هغه دَ دولسو کالو
وه. په دے خبره هغوئ ټول اریان دریان شول. ۴۳ هغهٔ
هغوئ ته په کلکه ووئیل چه "ګورئ په دے څوک خبر نهٔ
شی،" اَؤ هغوئ ته ئے ووئیل چه "هغے ته څهٔ ورکړئ چه
وخوری."

## دَ عیسیٰ په ناصرت کښے نهٔ قبلیدل

متی ۱۳ : ۵۳ ـ ۵۸، لُوقا ۴ : ۱۶ ـ ۳۰

۶ ۱ عیسیٰ دَ هغه ځایه روان شو اَؤ خپل کلی ته دَ خپلو
مُریدانو سره لاړو. ۲ هر کله چه دَ سبت ورځ راغله نو هغهٔ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په عبادت خانه کښې تعليم شروع کړو اَؤ ډيرو خلقو چه دَ
هغهٔ تعليم واؤريدلو نو حيران شول اَؤ وئې وئيل چه "هغهٔ دا
خبرې دَ کُومه زده کړې؟ اَؤ دا پوهه دَهٔ ته څنګه ورکړې
شوه؟ اَؤ دَئې دا مُعجزې څنګه ښئ؟ ٣ دا هغه ترکاڼ نهٔ
دے، دَ مريمې زوئې، دَ يعقُوب، دَ يُوسف، دَ يهوداه اَؤ دَ
شمعُون ورور نهٔ دے؟ اَؤ يا دَ دَهٔ خويندې دلته مُونږ سره نهٔ
دی؟" دغه شان هغوئ دَ هغهٔ په حقله تيندک وخوړو. ٤
عيسىٰ هغوئ ته ووئيل چه "نبی به هميشه هر چرته عزت
مُومی خو په خپل کلی اولس اَؤ خپلو خپلوانو کښې نه."

٥ هغهٔ هلته هيڅ مُعجزې ښکاره نهٔ کړې بے دَ دے چه
خپل لاسُونه ئې په يو څو رنځُورانو راکښل اَؤ هغوئ ئې روغ
کړل. ٦ اَؤ هغه دَ هغوئ په بے اِعتقادئ حيران شو.

## دَ دولسو مُريدانو ليږل

متی ١٠ : ٥ - ١٥، لُوقا ٩ : ١ - ٦

په ګير چاپير کلو کښې عيسىٰ ګرزيدو اَؤ تعليم ئې ورکړو.
٧ هغهٔ دولس مُريدان راوبلل اَؤ دوه دوه تنه ئې په مُهم
آستول شروع کړل اَؤ په پيريانو ئې ورله اِختيار ورکړو. ٨
اَؤ ورته ئې ووئيل چه "دَ سفر دَ پاره دَ يوې امسا نه بغير دَ
ځان سره بل هيڅ څيز وانهٔ خلئ، نهٔ ډوډئ، نهٔ کڅوړه اَؤ نهٔ په
هميانی کښې پيسې تکې. ٩ څپلئ خو په پښو کړئ خو
دويم قميص مه آخلئ." ١٠ اَؤ ورته ئې ووئيل چه "کله
تاسو يو کور ته ننوزئ نو تر هغې هلته پاتې شئ تر څو دَ
هغه ځايه رُخصت شوی نهٔ يئ. ١١ اَؤ چه په کُوم ځائې
کښې خلق تاسو قبول نهٔ کړی اَؤ غوږ درته نهٔ ږدی نو دَ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپلو پښو نه دُوړے وښنډئ چه دَ هغو دَ پاره شاهدی شی."

١٢ نو هغوئ بهر لاړل اَؤ کلام ئے آؤرولو چه توبه ګار شئ.
١٣ هغوئ ډیر پیریان وویستل اؤ ډیر رنځُوران ئے په تیلو
غوړ کړل اَؤ جوړ ئے کړل.

## دَ یحییٰ بپتسمه ورکوُونکی مرګ

متی ١۴ : ١ ـ ١٢، لُوقا ٩ : ٧ ـ ٩

١۴ نو هیرودیس بادشاه دَ عیسیٰ په باب کښے واؤریدل
ځکه چه دَ عیسیٰ نُوم مشهور شوے وو اَؤ ځنی خلقو دا وئیل
چه "بپتسمه ورکوُونکے یحییٰ بیا راژوندے کړے شوے دے
ځکه خو ورسره داسے مُعجزے دی." ١۵ نورو وئیل چه
"دا اِلیاس دے" اَؤ ځنو دا وئیل چه "دا دَ زړو نبیانو په شان
یو نبی دے."

١٦ خو چه هیرودیس دا واؤریدل نو وئے وئیل چه "دا هغه
یحییٰ دے چه ما ئے سر پریکړے وو اَؤ بیا راژوندے شوے
دے." ١٧ ځکه چه هم دے هیرودیس یحییٰ دَ خپل ورور
فیلیپوس دَ ښځے هیرودیاس په وجه قید کړے وو کُومه چه
هغهٔ وادهٔ کړے وه. ١٨ یحییٰ هیرودیس ته وئیلی وُو چه "دا
ستا دَ پاره ناروا ده چه دَ خپل ورور ښځه په نکاح واخلے."
١٩ ځکه خو هیرودیاس ورسره کینه لرله اَؤ غوښتل ئے چه
هغه قتل کړی خو کولے ئے نهٔ شو. ٢٠ ځکه چه هیرودیس
دَ یحییٰ نه په دے ویریدو چه هغهٔ ته معلومه وه چه دَئے پاک
اَؤ ښهٔ سړے دے، ځکه ئے دَ هغهٔ ساتنه وکړله. هیرودیس دا
غوښتل چه دَ هغهٔ خبرے واؤری خو دَ هغهٔ خبرو هغه ډیر

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شکمن کړے وو.

۲۱ هیرودیاس دا موقعه هغه وخت بیا مُونده کله چه
هیرودیس په خپله سالګره خپلو امیرانو، فوځی افسرانو اَؤ دَ
ګلیل غټانو ته ډوډۍ کړې وه. ۲۲ دَ هغهٔ لُور دَ ننه راغلله اَؤ
ګډه شوه اَؤ هیرودیس اَؤ دَ هغهٔ میلمانهٔ ئے دومره خوشحاله
کړل چه بادشاه جینۍ ته ووئیل، "وغواړه څهٔ چه غواړے اَؤ
زَهٔ به ئے درکړم" ۲۳ اَؤ هغهٔ هغے ته قسم وخوړو، "هر څهٔ
چه غواړے زَهٔ به ئے درکړم ترخپلے نیمے بادشاهۍ
پورے."

۲۴ هغه بهر ووتله اَؤ خپلے مور ته ئے ووئیل چه "زَهٔ ترے
څهٔ وغواړم؟"

خو هغے جواب ورکړو، "دَ بپتسمه ورکوُونکی یحییٰ سر."

۲۵ جینۍ سمدستی بادشاه له ورغله اَؤ سوال ئے وکړو،
"زَهٔ غواړم چه تهٔ ما ته دلته په دے ساعت دَ بپتسمه
ورکوُونکی یحییٰ سر په رکابۍ کښے راکړے."

۲۶ بادشاه ډیر زهیر شو خو دَ خپلو سوګندُونو اَؤ دَ میلمنو
له مخه ئے دا نهٔ غوښتل چه دَ هغے سره بے لوظی وکړی.
۲۷ نو بادشاه پهریدار سپاهی ته حُکم ورکړو چه "لاړ شه، دَ
یحییٰ سر راؤړه." ۲۸ سپاهی لاړو په قید خانه کښے ئے دَ
هغهٔ سر پریکړو اَؤ په یو تالۍ کښے ئے راؤړو اَؤ جینۍ ته
ئے پیش کړو اَؤ هغے خپلے مور له ورکړو. ۲۹ دَ یحییٰ
مُریدان چه دَ دے نه خبر شول نو راغلل دَ هغهٔ لاش ئے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

واخستو اَؤ په قبر کښې ئې ښخ کړو.

## پنځۀ زرو له خوراک ورکول

متى ۱۴ : ۱۳ ـ ۲۱، لُوقا ۹ : ۱۰ ـ ۱۷، يوحنا ۶ : ۱ ـ ۱۴

۳۰ رسُولان بيا عيسىٰ ته راټول شول اَؤ هر څۀ چه ئې کړى
اَؤ ښودلى وُو هغه ئې ترې خبر کړو. ۳۱ هغۀ هغوئ ته
ووئيل چه "تاسو ماپسې راځئ چه چرته خوشى ځائې ته لاړ
شُو چه تاسو لږ آرام وکړئ." ځکه چه دومره خلق تلل راتلل
چه هغوئ ډوډئ خوړلو ته هم نۀ وزګاريدل. ۳۲ بيا هغوئ
جُدا په کشتئ کښې کښيناستل اَؤ يو خوشى ځائې ته لاړل.

۳۳ خو ډيرو خلقو هغوئ په تلو کښې وليدل اَؤ وئې پيژندل
اَؤ دَ وچې په لاره دَ ټولو ښاريو نه هغه ځائې ته وروچليدل
اَؤ هغوئ نه وړاندې ورسيدل. ۳۴ هغه چه غاړې ته
ورسيدلو نو ډيره ګڼه ئې وليده اَؤ زړۀ ئې پرې وسوزيدلو
ځکه چه هغوئ دَ داسې ګډو په مِثال وُو چه شپُون ئې نۀ
وى اَؤ هغۀ هغوئ ته ډير تعليم ورکړو. ۳۵ هر کله چه ورځ
په تيريدو شوه دَ هغۀ مُريدان هغۀ له ورغلل اَؤ وئې وئيل چه
"دا يو خوشې ځائې دے اَؤ ناوخته کيږى. ۳۶ دا خلق ګير
چاپيره کلو بانډو ته رُخصت کړه چه ځان له څۀ دَ خوراک
څيزُونه په بيعه واخلى."

۳۷ هغۀ ورته ووئيل چه "تاسو ورله په خپله څۀ ورکړئ چه
وئې خورى."

هغوئ جواب ورکړو، "آيا مُونږ لاړ شُو اَؤ دَ دوۀ سوو روپو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ډوډئ دَ دوئ دَ پاره واخلُو؟“

۳۸ هغۀ ووئیل چه ”تاسو سره څومره ډوډئ دی؟ لاړ شئ اَؤ
وئے ګورئ.“

هغوئ لاړل، وئے کتلے اَؤ هغۀ ته ئے ووئیل چه ”پنځه ډوډئ
دی اَؤ دوه کبان هم.“

۳۹ هغۀ هغوئ ته حُکم ورکړو چه ”په شین کبل دا خلق په
ډلو ډلو کښے کښینوئ.“ ۴۰ اَؤ هغوئ په قطارُونو کښے
کښیناستل اَؤ په هره ډله کښے سل سل پنځوس پنځوس تنه.
۴۱ نو بیا هغۀ پنځه ډوډئ اَؤ دوه کبان واخستل، آسمان ته
ئے وکتل، شکر ئے وویستو اَؤ ډوډئ ئے ماتے کړے. بیا
ئے مُریدانو ته ورکړے چه تقسیم ئے کړی. هغۀ هغه دوه
کبان هم په هغوئ وویشل. ۴۲ هغو ټولو په مړه ګیډه
خوراک وکړو. ۴۳ اَؤ دولس ډکے شکرئ ئے دَ ټُکړو
راغونډے کړے اَؤ دَ کبانو نه هم څۀ پاتے شوی وُو. ۴۴ چا
چه دا ډوډئ خوړلے وه هغه پنځه زره سړی وُو.

## په اوبو باندے ګرزیدل

متی ۱۴ : ۲۲ ـ ۳۳، یوحنا ۶ : ۱۵ ـ ۲۱

۴۵ خو سمدستی عیسیٰ خپل مُریدان مجبُور کړل چه هغوئ
کِشتئ ته وخیژی اَؤ دَ هغۀ نه مخکښے بیتِ صیدا ته پورے
وزی اَؤ په خپله ئے خلق رُخصت کړل. ۴۶ چه هغوئ ئے
رُخصت کړل نو په خپله غر ته وختو چه دُعا وکړی. ۴۷
ناوخته شوے وو اَؤ کِشتئ په اوبو کښے لرے وتے وه اَؤ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه په وچه يکی يواځے وو. ۴۸ عيسىٰ وليدل چه هغوئ په
چپو وهلو عذابيږی ځکه چه باد مُخالف وو اَؤ عيسىٰ قريبًا دَ
شپے څلورم پهر دَ اوبو دَ پاسه دَ هغوئ په لور روان شو.
هغه په هغوئ تيريدو ۴۹ چه دَ هغوئ پرے نظر شو چه دَ
اوبو دَ پاسه روان دَے، نو وئے گڼل چه دا گنی پيرے دے
نو چغے ئے کړے. ۵۰ ځکه چه هغوئ ټولو دَئے وليدلو اَؤ
ويرے واخستل.

خو سمدستی ئے ورته ووئيل چه "زړُونه کلک کړئ! دا زَهٔ
يم، ويره مه کوئ." ۵۱ بيا هغه دَ هغوئ سره کِشتئ ته
وختلو اَؤ باد بند شو. په دے هغوئ بيخی حيران شول، ۵۲
ځکه چه هغوئ لا دَ ډوډئ په هغه واقعه پوهه نهٔ وُو، دَ هغوئ
زړُونه سخت شوی وُو.

## دَ گينسرت په علاقه کښے رنځوران روغول

متی ۱۴ : ۳۴ ـ ۳۶

۵۳ چه هغوئ پورے غاړے ته ورسيدل نو گينسرت ته
راغلل اَؤ هلته ئے کِشتئ په گودر وتړله. ۵۴ هر کله چه
هغوئ په غاړه کُوز شول نو خلقو سمدستی عيسىٰ وپيژندو.
۵۵ اَؤ خلق په گيرچاپيره وطن کښے په شلگونو وزغليدل
اَؤ دَ هرے خوا نه ئے مريضان په بانگو کښے ورته راوړل.
۵۶ اؤ هر چرته چه به هغه تلو، کلو ته، ښارونو ته، يا بانډو
ته، هغوئ به په بازارُونو اَؤ چو کُونو کښے ورته مريضان
کښينول اَؤ مِنت به ئے ورته کولو چه تش دَ هغهٔ چُوغے له
لاس وروړی، اَؤ چا چه هغهٔ له لاس وروړو نو هغوئ ټول
روغ شول.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## دَ مشرانو روايات

متى ۱۵ : ۱ ـ ۹

۷ ۱ فريسيان اَؤ ځنے دَ شرعے عالمان دَ بيتُ المُقدس
نه عيسىٰ له راغلل اَؤ جرګه ئے وکړله. ۲ نو هغوئ وليدل
چه دَ هغهٔ مُريدان په سخا ناوينځلو لاسُونو ډوډئ خوری.

۳ ځکه چه فريسيان اَؤ ټول يهوديان دَ خپلو رواياتو په
مُطابق هيڅ کله هم په ناوينځلو لاسُونو ډوډئ نهٔ خوری، تر
څو چه ئے تر څنګلو پورے لاسُونه وينځلی نهٔ وی. ۴ کله
چه هغوئ بازار نه راشی اَؤ لامبلی ئے نهٔ وی هيڅ نهٔ خوری،
اَؤ ډيرے نورے خبرے داسے دی چه هغوئ دَ روياتو
پابندی کوی، لکه دَ رکابو اَؤ دَ تانبے دَ لوښو وينځل.

۵ ځکه دوئ فريسيانو اَؤ دَ شرعے عالمانو دَ هغهٔ نه تپوس
وکړو چه "ستا مُريدان دَ مشرانو دَ رواياتو پابندی ولے نهٔ
کوی چه په ناوينځلو لاسُونو ډوډئ خوری؟"

۶ هغهٔ جواب ورکړو چه "ستاسو په شان دَ مُنافقانو په
حقله يشعياه نبی په رښتيا دا پيشن ګوئی کړے وه :

"دا خلق تش په خُلهٔ زما عزت کوی

خو زړُونه ئے رانه ډير لرے دی.

۷ خو دوئ بے فائدے زما عبادت کوی

ځکه چه دوئ دَ اِنسانی حُکمُونو تعليم ورکوی."

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٨ تاسو دَ خُدائے حُکم خو شاته غورزوئ اَؤ دَ بنی آدمو دَ
رواياتو پابندی کوئ.“

٩ عيسىٰ هغوئ ته دا هم ووئيل چه ”تاسو به دَ خُدائے
حُکم څرنګ شا ته وغورزوئ، تش دَ دے دَ پاره چه دَ رواياتو
پابندی وکړئ. ١٠ ځکه چه مُوسىٰ ووئيل، ”دَ خپل پلار اَؤ
مور عزت کوئ“ اَؤ ”کُوم سړے چه خپل پلار اَؤ مور ته بد
رد وائی هغه دِ ضرور قتل کړے شی.“ ١١ خو تاسو دا وايئ
چه که چرے يو سړے خپل مور يا پلار ته دا ووائی چه زما
هر هغه څيز چه ستا پکاريدے شی ما قُربان کړو، مطلب دا
چه ما دَ خُدائے په نامه ورکړو، ١٢ نو هغه دَ مور اَؤ پلار دَ
حق نه بيخی بے غمه شو. ١٣ نو دغه شان تاسو دَ خپلو
رواياتو په وجه دَ خُدائے حُکمُونه منسُوخ کوئ اَؤ دغه شان
نور هم ډير کارُونه تاسو په دے شان کوئ.“

## هغه څيزونه چه بنی آدم پليتوی

متی ١٥ : ١٠ ـ ٢٠

١٤ په بله موقع هغهٔ خلق راوبلل اَؤ ورته ئے ووئيل، ”تاسو
ټول زما خبره واؤرئ اَؤ ځان پرے پوهه کړئ. ١٥ داسے
هيڅ څيز نِشته چه اِنسان ئے تير کړی اَؤ هغه پرے پليت شی
خو هر هغه څيز چه دَ اِنسان نه وزی هغه اِنسان پليتوی. ١٦
که تاسو دَ آؤريدو قابل غوږُونه لرئ نو واؤرئ.“

١٧ هر کله چه عيسىٰ دَ دے خلقو نه بيل شو اَؤ کورته لاړو
نو دَ هغهٔ مُريدانو دَ مِثالُونو په حقله دَ هغهٔ نه تپوس وکړو.
١٨ هغهٔ هغوئ ته ووئيل، ”تاسو هم دَ نورو غوندے ناپوهه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يئ؟ تاسو دا نۀ وينئ چه دَ بهر نه چه هر څۀ په اِنسان کښې
ننوزی په دے هغه نۀ پليتيږی. ۱۹ ځکه چه دا دَ هغۀ په زړۀ
کښے نۀ ننوزی بلکه دَ هغۀ خيټے ته ځی اَؤ دَ حاجت په
لارے بهر وزی.“ ځکه هغۀ ټولو خوراکُونو ته پاک ووئيل.

۲۰ هغۀ وړاندے ووئيل، ”څۀ چه دَ اِنسان نه روازی هم هغه
سړے پليتوی. ۲۱ ځکه چه دَ اِنسان دَ زړۀ نه بد خيالُونه
راوزی، حرام کارئ، ۲۲ غلاګانے، خُونُونه، زِناکاری،
حرص، بدئ، ټګئ، بے شرمی، بد نظر، کُفر، مغرُورتيا اَؤ بے
وقُوفی. ۲۳ دا ټول بد کارُونه دَ ننه نه راوُزی اَؤ دا سړے
پليتوی.“

## دَ صُور فينکی دَ علاقے دَ ښځے عقيده

متی ۱۵ : ۲۱ - ۲۸

۲۴ بيا عيسىٰ دَ هغه ځايه رُخصت شو اَؤ دَ صور سرحد ته
راغے. هلته هغه يو کور ته ورغے، هغۀ دا غوښتل چه څوک
ترے خبر نۀ شی، خو دا کله کيدئے شو؟ ۲۵ سمدستی يوه
ښځه چه وړه لُور ئے پيريانو نيولے وه ترے خبره شوه. هغه
دَ ننه راغله اَؤ دَ دَۀ په پښو پريوته. ۲۶ هغه دَ يُونانی نسل اَؤ
دَ شام دَ فينکی نه وه. هغے هغۀ ته عرض وکړو چه ”زما دَ
لُور نه پيری لرے کړه.“ ۲۷ هغۀ هغے ښځے ته ووئيل چه
”اول بچی په خيټه مړول پکار دی، دا مناسب نۀ دی چه دَ
بچو نه دِ ډوډئ وتروړلے شی اَؤ سپو ته دِ وغورزولے شی.“

۲۸ هغے ورته ووئيل، ”مالِکه! خو سپی هم دَ بچو دَ ميز دَ
لاندے ټُکړے خوری.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۹ هغهٔ هغې ته ووئیل، "تا چه دا ووئیل نو خاطر جمع کور
ته لاړه شه، پیریان ستا دَ لُور نه وتلی دی."

۳۰ اَؤ هر کله چه هغه کور ته راغله نو لُور ئې په کټ
کښې پرته ولیده اَؤ پیریان ترې تلی وُو.

## دَ کُوڼ اَؤ دَ چاړا سړی روغول

۳۱ دَ صور دَ علاقې نه په واپسئ عیسیٰ دَ صیدا په لارې دَ
دِکپولس په حدُونو تیر شو اَؤ دَ ګلیل دَ دریاب علاقې ته
ورسیدلو. ۳۲ نو خلقو هغهٔ له یو کُوڼ سړې راوستو چه هم
چاړا وو اَؤ سوال ئې ورته وکړو چه په هغهٔ خپل لاس
کیږدی. ۳۳ هغهٔ هغه سړې دَ خلقو نه یو خوا ته بوتلو،
خپلې ګوتې ئې دَ هغهٔ په غوږُونو کښې کیښوې، لاړې
ئې ورتُو کړې اَؤ ژبه ئې ورله مسحه کړه. ۳۴ بیا ئې
آسمان ته وکتل اَؤ آسویلې ئې وکړو اَؤ هغهٔ ته ئې ووئیل،
"اِفتح،" یعنې پرانستې شه.

۳۵ دَ دې سره دَ هغهٔ غوږُونه خلاص شول اَؤ سمدستی ئې
ژبه ګویا شوه. ۳۶ عیسیٰ هغوئ منع کړل، وئیل ئې چه چا
ته حال مه وایئ. خو هر څومره چه هغهٔ منع کول، دومره به
هغوئ خبره خوروله. ۳۷ دَ هغوئ دَ تعجب څهٔ حد نهٔ وو.
هغوئ ووئیل چه "دَهٔ خو هر څهٔ سم کړی دی، څهٔ چه هغه
کوی ډیر ئې ښهٔ کوی، تر دې چه هغه کُوڼ له غوږُونه اَؤ
چاړا ګانو ته ژبې ورکوی."

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# څلور زرو سړو له خوراک ورکول

متی ۱۵ : ۳۲ ـ ۳۹

٨ ١ په هغه ورځو کښې په یوه بله موقعه چه ډیر خلق
راجمع وُو اَؤ ورسره دَ خوړلو څهٔ نهٔ وُو، عیسیٰ خپل مُریدان
راوبلل اَؤ ورته ئې ووئیل، ٢ ”په دې خلقو زما زړهٔ
سوزی، دَ دریو ورځو راسې زما سره دی اَؤ څهٔ ئې خوړلی
نهٔ دی. ٣ که چرې کورُونو ته ئې وُړی واستوم نو دوئ به
په لاره بې هوشه شی ځکه چه ځنې په کښې دَ لرې نه
راغلی دی.“

٤ مُریدانو جواب ورکړو چه ”په دې خوشی بیابان کښې
به څوک دومره خلقو له ډوډئ ورکړې شی؟“

٥ هغهٔ تپوس وکړو چه ”تاسو سره څو ډوډئ دی؟“ اَؤ
هغوئ جواب ورکړو، ”اُووهٔ.“

٦ نو هغهٔ خلقو ته حُکم ورکړو چه ”په مزکه کښینئ.“ بیا
هغهٔ هغه اُووهٔ ډوډئ واخستې، دَ خُدائې شکر ئې وویستو
اَؤ هغه ډوډئ ئې ماتې کړې اَؤ مُریدانو ته ئې دَ ویشلو دَ
پاره ورکړې اَؤ هغوئ خلقو ته ورکړې. ٧ دَ هغوئ سره
یو څو واړهٔ کبان هم وُو چه په هغو ئې هم شکر وویستو اَؤ
حُکم ئې وکړو چه ”دا هم پرې تقسیم کړئ.“ ٨ هغو ټولو
خوراک په مړه خیټه وخوړلو اَؤ دَ پاتې شوی ټُکړو نه اُووهٔ
ټوکرئ ډکې شوې. ٩ خلق خوا اَؤ شا څلور زره وُو. بیا
ئې هغوئ رُخصت کړل، ١٠ اَؤ سمدستی دَ خپلو مُریدانو
سره کِشتئ ته وختلو اَؤ دَ لمتیانو علاقې ته لاړو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## نخښه غوښتل

متی ۱۶ : ۱ ـ ۴

۱۱ نو بیا فریسیان بهر راووتل اَؤ دَ عیسیٰ سره ئې مُناظره
شروع کړه. دَ آزمېښت په طور ئې دَ هغهٔ نه څهٔ آسمانی
نخښه وغوښته. ۱۲ هغهٔ دَ ځان سره یو سوړ آسویلې وکړو
اَؤ وئې وئیل چه "دا پیړئ نخښې دَ څهٔ دَ پاره غواړی؟ زهٔ
درته دا وایم چه دې پیړئ ته به یوه نخښه هم ورنهٔ کړې
شی."

۱۳ په دې خبره ئې دوئ پرېښول اَؤ بیا کِشتئ ته وختلو اَؤ
دَ دریاب بلې غاړې ته لاړو.

## دَ فریسیانو اَؤ دَ هیرودیس خمبیره

متی ۱۶ : ۵ ـ ۱۲

۱۴ خو دا ځلې دَ مُریدانو نه دَ ځان سره ډوډئ وړل هیر
شوی وُو. ۱۵ په کشتئ کښې دَ هغوئ سره یکی یوه ډوډئ
وه. عیسیٰ هغوئ له خبردارې ورکړو اَؤ وئې وئیل چه "دَ
فریسیانو اَؤ دَ هیرودیس دَ خمبیرې نه به ګورې، ځان
ساتئ."

۱۶ هغوئ په خپلو کښې ووئیل چه "دا په دې چه زمُونږ
سره ډوډئ نِشته."

۱۷ هغه دَ هغوئ په زړُونو پوهه شو چه په دوئ کښې څهٔ
دی، ځکه ئې تپوس ترې وکړو، "دا تاسو داسې خبرې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ولے کوئ چه ګنی ړوړئ درسره نِشته؟ آیا تاسو ته تر اوسه
معلُومه نۀ ده؟ تاسو لا تر اوسه نه یئ پوهه؟ آیا ستاسو دِماغ
تر اوسه بند دی؟ ۱۸ تاسو سترګے خو لرئ، نو تاسو وینئ
نۀ؟ تاسو غوږُونه لرئ، نو تاسو آؤرئ نه؟ آیا ستاسو نه هیر
دی؟ ۱۹ چه کوم وخت ما پنځه ړوړئ پنځه زره کسانو ته
ماتے کړے، نو تاسو دَ پاتے شوو ټُکړو نه څومره ټوکرئ
ډکے کړے وے؟“

هغوئ ورته ووئیل چه ”دولس.“

۲۰ ”اَؤ چه کله مے اووۀ ړوړئ څلور زرو تنو ته ماتے
کړے، نو تاسو دَ پاتے شوو ټُکړو نه څومره ټوکرئ ډکے
کړے وے؟“

هغوئ جواب ورکړو ”اُووۀ.“

۲۱ نو هغۀ ووئیل چه، ”لا تر اوسه هم نۀ پوهیږئ؟“

## په بیتِ صیدا کښے دَ یو ړُوند سړی بینا کول

۲۲ هغوئ بیتِ صدا ته ورسیدل. هلته خلقو عیسیٰ له یو
ړُوند سړے راوستو اَؤ سوال ئے وکړو چه په هغۀ لاس
ولګوی. ۲۳ هغۀ ړُوند سړے دَ لاسه ونیوو اَؤ دَ کلی نه ئے
بهر بوتلو. بیا ئے دَ هغۀ په سترګو لاړے پورے کړے اَؤ خپل
لاس ئے پرے ولګوو اَؤ تپوس ئے وکړو چه ”څۀ ورته
ښکاری که نه؟“

۲۴ دَ سړی سترګے بینا شوے اَؤ وئے وئیل، ”زَۀ سړی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وینم لکه دَ ونو په شان، خو دا ګرځی.“

٢٥ عیسیٰ دَ هغهٔ په سترګو بیا لاس کیښودو ”اَؤ هغه سړی
په ځیر ورته وکتل،“ نو هغه جک جوړ شو اَؤ هر شے ورته
صفا ښکاره شو. ٢٦ بیا عیسیٰ هغه کور ته رُخصت کړو اَؤ
ورته ئے ووئیل چه ”په کلی کښې مه ننوزه.“

## دَ عیسیٰ په باب کښې دَ پطروس اِقرار

متی ١٦ : ١٣ ـ ٢٠، لُوقا ٩ : ١٨ ـ ٢١

٢٧ عیسیٰ اَؤ دَ هغهٔ مُریدان قیصریه فیلیپی ته لاړل. هغهٔ په
لاره دَ خپلو مُریدانو نه تپوس وکړو چه ”خلق څهٔ وائی چه زَهٔ
څوک یم؟“

٢٨ هغوئ جواب ورکړو چه ”ځنے وائی چه بپتسمه
ورکوُونکے یحییٰ دے، ځنے درته اِلیاس وائی اَؤ نور دِ دَ
نبیانو نه یو نبی ګڼی.“

٢٩ نو بیا هغهٔ تپوس وکړو چه ”تاسو مے څهٔ ګڼئ چه زَهٔ
څوک یم؟“

پطروس جواب ورکړو چه ”تهٔ مسیح ئے.“

٣٠ بیا هغهٔ هغوئ په سختئ سره منع کړل چه ”زما په حقله
هیچا ته څهٔ مهٔ وایئ.“

## دَ عیسیٰ دَ مرګ اَؤ بیا ژوندے کیدو په باب کښے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## پیشن ګوئی

متی ۱۶ : ۲۱ ـ ۲۸، لُوقا ۹ : ۲۲ ـ ۲۷

۳۱ اَؤ بیا ئے هغوئ ته تعلیم شروع کړو چه "اِبن آدم به په
ځان ډیر تکلیفونه تیر کړی اَؤ مشران، مشران کاهنان اَؤ دَ
شرعے عالمان به ئے مُجرم کړی اَؤ قتل به ئے کړی، خو په
دریمه ورځ به هغه بیا ژوندے پاځی." ۳۲ هغهٔ دا خبره په
صفا ټکو کښے ووئیله. نو پطروس هغه دَ لاسه ونیولو، یوے
اړخ ته ئے بوتلو اَؤ وئے زورلو. ۳۳ خو عیسیٰ مخ
راواړولو، خپلو مُریدانو ته ئے وکتل اَؤ پطروس ئے ورټلو.
ورته ئے ووئیل چه "رانه لرے شه شیطانه! تهٔ دَ بنی آدمو په
شان سوچ کوے، نهٔ چه دَ خُدائے په شان."

۳۴ بیا عیسیٰ خلق اَؤ خپل مُریدان هم راوبلل اَؤ هغوئ ته
ئے ووئیل، "هر څوک چه زما مُرید جوړیدل غواړی هغه دِ
خپل ځان هیر کړی، په کار دی چه هغه دِ خپله سولئ پورته
کړی اَؤ ما پسے دے راځی. ۳۵ څوک چه دَ ځان خیر
غواړی هغه به ترے نه ورک شی، خو کُوم سړے چه دَ زیری
اَؤ زما دَ خاطره ځان ورک کړی نو هغه به ئے بچ کړی. ۳۶
که یو بنی آدم دَ خپل ځان په بدل کښے ټوله دُنیا وګټی نو
څهٔ ئے وګټل؟ ۳۷ هغه دَ دے ځان دَ بیا حاصلولو دَ پاره
څهٔ قیمت ورکولے شی؟ ۳۸ اَؤ هر هغه څوک چه په دے دَ
خُدائے نه مُنکره اَؤ ګُناه ګاره پیړئ کښے په ما اَؤ زما په
کلام شرمیږی، نو اِبن آدم به هم په هغهٔ په هغه وخت
شرمیږی کله چه هغه دَ خپل پلار په لوئی کښے دَ پاکو
فرښتو سره راشی."

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٩ ١ عیسیٰ ووئیل، ”زۀ تاسو ته رښتیا وایم چه دلته ځنے
داسے خلق هم ولاړ دی چه هغوئ به تر هغے ونۀ مری تر
څو ئے چه په خپله خُدائے دَ بادشاهی قدرت سره راغلے
لیدلے نۀ وی.“

## دَ عیسیٰ شکل بدلیدل

متی ١٧ : ١ - ١٣، لُوقا ٩ : ٢٨ - ٣٦

٢ شپږ ورځے پس عیسیٰ دَ ځان سره پطروس یعقُوب اَؤ
یوحنا روان کړل اَؤ یو اُوچت غرۀ ته ئے جُدا وخیژول اَؤ دَ
هغوئ په موجُودګئ کښے دَ هغۀ شکل بدل کړے شو. ٣ دَ
هغۀ جامے سپینے بریښیدُونکی شوے، داسے سپینے چه دَ
مزکے په مخ یو دوبی ئے هم داسے سپینولے نۀ شی. ٤
نو هغوئ بیا اِلیاس اَؤ مُوسیٰ ولیدل چه دَ عیسیٰ سره ئے
خبرے کولے. ٥ بیا پطروس ووئیل چه ”اُستاذه! دا
څومره ښۀ ساعت دے چه مُونږ هم دلته کښے یُو! آیا مُونږ
درے کوټګئ، یوه ستا دَ پاره، یوه دَ مُوسیٰ دَ پاره اَؤ یوه دَ
اِلیاس دَ پاره جوړے کړو؟“ ٦ بیا هغه په دے نۀ پوهیدو
چه څۀ وائی ځکه چه هغوئ ټول ډیر هیبت اختسی وُو.

٧ بیا یوه وریځ راښکاره شوه اَؤ په دوئ ئے سورے وکړو
اَؤ دَ هغے وریځے نه یو آواز راغے، ”دا زما زوئے، زما
محبوب دے. دَ هغۀ واؤرئ!“ ٨ اَؤ اوس چه ناڅاپی هغوئ
ګیر چاپیره وکتل نو هلته ئے هیڅوک ونۀ لیدل خو یواځے
عیسیٰ دَ هغوئ سره ولاړ وو.

٩ اَؤ چه دَ غرۀ نه راکوزیدل نو عیسیٰ هغوئ ته په ټینګه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ووئیل چه "هر څۀ چه مو لیدلی دی دا به هیچا ته نۀ وایئ تر
څو چه اِبن آدم دَ مړو نه بیا پاڅیدلے نۀ وی."

١٠ هغوئ دا خبره وساتله اَؤ په خپلو کښے ئے بحث کولو
چه دَ مړو نه دَ بیا پاڅیدلو څۀ مطلب کیدے شی. ١١ اَؤ
هغوئ په هغۀ باندے یو سوال وکړو، "زمُونږ دَ شرعے
عالمان دا ولے وائی چه اِلیاس به خامخا وړُومبے راشی؟"

١٢ هغۀ جواب ورکړو "هو! اِلیاس به وړُومبے راځی چه هر
شے سم کړی خو په صحیفو کښے لیکلی دی چه په اِبن آدم
به ډیرے سختے تیرے شی اَؤ په سپک نظر به ورته وکتے
شی. ١٣ خو زَۀ تاسو ته وایم چه اِلیاس خو راغلے هم دے
اَؤ هر څۀ چه ئے خوښ وُو هغه ئے ورسره کړی هم دی لکه
چه دَ هغۀ په حقله صحیفو وئیلی دی."

## دَ پیریانو نیولی هلک جوړول

متی ١٧ : ١٤ ـ ٢١، لُوقا ٩ : ٣٧ ـ ٤٣

١٤ اَؤ چه هغوئ مُریدانو ته په بیرته راغلل نو ګڼ خلق ئے
ورسره ولیدل چه په کښے دَ شرعے عالمان هم وُو اَؤ بحث
ئے ورسره کولو. ١٥ هر کله چه هغوئ عیسیٰ ولیدلو نو ټول
خلق هیبت واخستل اَؤ په دَوَ هغۀ له ستړی مشی له ورغلل.
١٦ هغۀ تپوس ترے وکړو چه "دا څۀ بحث روان دے؟"

١٧ په ګڼه کښے یو سړی جواب ورکړو، "اُستاذه! ما خپل
زوئے تا له راوستے دے. هغه پیریانو نیولے دے اَؤ خبرے
نۀ شی کولے. ١٨ کله چه پرے چپه راشی نو په مزکه ئے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راوولی اَوُ په خُلهٔ ئے ځګونه راشی، غاښونه چیچی، اَوُ پلے
ئے راکښلے شی. ما ستا مُریدانو ته ووئیل چه دا تِر وباسئ
خو هغوئ پاتے راغلل.“

۱۹ عیسیٰ جواب ورکړو، ”اَئے بے عقیدے پیړئ! زَهٔ به تر
څو تاسو سره یم اَوُ زَهٔ به تر څو تاسو زغمم؟ دَئے ما له
راولئ.“ ۲۰ نو هغوئ هغه هلک هغهٔ ته راوستو.

اَوُ څهٔ وخت چه پیری هغه ولیدو نو دَ هغهٔ وجُود ئے تاؤ
راتاؤ کړو اَوُ هغه په مزکه پریوتو ورغړیدو اَوُ په خُلهٔ ئے
ځګونه راغلل. ۲۱ عیسیٰ دَ هغهٔ دَ پلار نه تپوس وکړو چه
”څومره مُوده کیږی چه دَئے په دے حال دے؟“

هغهٔ جواب ورکړو چه ”دَ وړُوکوالی راسے. ۲۲ اَوُ څو ځله
ئے دَ هلاکولو دَ پاره اور اؤ اوبو ته هم غورزولے دے، اَوُ که
تهٔ څهٔ کولے شے نو په مُونږ رحم وکړه اَوُ مدد راسره
وکړه.“

۲۳ عیسیٰ ورته ووئیل چه ”که تهٔ څهٔ کولے شے! دَ چا چه
عقیده مظبُوطه وی دَ هغهٔ دَ پاره هر څهٔ مُمکن دی.“

۲۴ دَ هلک پلار چغے کړے چه ”زَهٔ عقیده لرم، زما مدد
وکړه ځکه چه زَهٔ دَ عقیدے کمزورے یم.“

۲۵ چه عیسیٰ ولیدل چه ګڼ خلق رانزدے کیږی نو هغهٔ هغه
پیری ته بدرد ووئیل. هغهٔ ووئیل ”اَئے ړُوند کُوڼ پیریه! زَهٔ
درته حُکم کوم، دَ دهٔ نه راوزه اَوُ بیا کله هم مه ورننوزه!“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢٦ هغهٔ په زوره چغې کړې اَؤ هير ئې تاؤ راتاؤ کړو اَؤ بيا
پيرې ترې ووتو اَؤ هلک لکه دَ مړی په شان پړيوتو، بلکه
ډيرو وئيل چه "دې مړ دې." ٢٧ خو عيسىٰ هغه دَ لاسه
ونيوو اَؤ په پښو ئې ودرولو اَؤ هغه وُدريدو.

٢٨ بيا عيسىٰ دَ ننه لاړو اَؤ دَ هغهٔ مُريدانو ترې ځان له
تپوس وکړو چه "دا مُونږ ولې نهٔ شو ويستې؟"

٢٩ هغهٔ ورته ووئيل، "دا قِسم په بله هيڅ ذريعه نهٔ راوزی بې
له دُعا نه."

## دَ عيسىٰ دَ خپل مرګ اَؤ دَ بيا ژوندی کيدلو په حق کښې بيا پيشن ګوئی

متی ١٧ : ٢٢ ـ ٢٣، لُوقا ٩ : ٤٣ ـ ٤٥

٣٠ بيا هغوئ دَ هغې علاقې نه لاړل اَؤ دَ ګليل په لار ئې
سفر وکړو. عيسىٰ دا غوښتل چه هيڅوک پرې خبر نهٔ شی،
٣١ ځکه چه هغه مُريدانو ته تعليم ورکا وو اَؤ ورته ئې
ووئيل چه "اِبن آدم به اوس بنی آدمو ته سپارلې کيږی اَؤ
هغوئ به ئې وژنی، خو دَ وژلو نه درې ورځې پس به هغه
بيا پورته کيږی."

٣٢ خو هغوئ دَ هغهٔ په خبره نهٔ پوهيدل اَؤ دَ ويرې ئې
ترې تپوس هم نهٔ شو کولې.

## دَ ټولو نه مشر څوک دې؟

متی ١٨ : ١ ـ ٥، لُوقا ٩ : ٤٦ ـ ٤٨

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۳ هغوئ بيا کفرنحُومِ ته راغلل اَؤ عيسیٰ په کور کښې دَ
ننه وو چه دَ هغوئ نه ئې تپوس وکړو چه "تاسو په لاره څهٔ
بحث کاوو؟"

۳۴ هغوئ غلي وُو ځکه چه په لارې هغوئ دا بحث کړے
وو چه په ټولو کښې لوئې څوک دے؟ ۳۵ هغه کښيناستو
اَؤ هغه دولس مُريدان ئې راوغوښتل اَؤ ورته ئې ووئيل، "که
څوک دا غواړی چه دَ ټولو مير شی نو هغه دِ ځان دَ ټولو نه
وروستو کړی اَؤ دَ ټولو خدمتګار دِ شی." ۳۶ بيا هغهٔ يو
ماشُوم راواخستو اَؤ دَ هغوئ په وړاندې ئې ودرولو اَؤ خپل
لاس ئې ترې تاؤ کړو اَؤ ورته ئې ووئيل، ۳۷ "که په
داسې ماشُومانو کښې يو هم زما په نُوم څوک قبُول کړی نو
هغه ما قبلوی اَؤ هر څوک چه ما قبلوی هغه ما نه، بلکه هغه
قبلوی چا چه زَهٔ راليږلے يم."

## هغه څوک چه زمُونږ نه خلاف نهٔ دے زمُونږ ملګرے دے

لُوقا ۹ : ۴۹ ـ ۵۰

۳۸ يوحنا عيسیٰ ته ووئيل، "اُستاذه! مُونږ يو سړے وليدو
چه ستا په نُوم پيريان وباسی، خو هر کله چه هغه زمُونږ نه
نهٔ وو نو مُونږ دَ هغهٔ دَ منع کولو کوشش وکړو."

۳۹ عيسیٰ ورته ووئيل چه "هغه مه منع کوئ ځکه چه
داسې هيڅوک نِشته چه زما په نُوم مُعجزې ښکاره کوی اَؤ
بيا به زر په ما پسې بد وائی. ۴۰ خو څوک چه زمُونږ
خلاف نهٔ دے هغه زمُونږ ملګرے دے. ۴۱ زَهٔ تاسو ته دا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وایم چه که څوک هم تاسو ته په دے نیت یو کنډول اوبۀ
درکړی چه تاسو دَ مسیح مُریدان یئ نو هغه سرېے به یقیناً
بے اَجره پاتے نۀ شی.

## دَ ګُناه لمسُون

متی ۱۸ : ۶ ـ ۹، لُوقا ۱۷ : ۱ ـ ۲

۴۲ اَؤ هر هغه څوک چه له دے وړو نه چه په ما عقیده لری
په لاره کښے خنډُونه پیدا کوی نو دَ هغۀ دَ پاره به دا ښۀ وی
چه دَ ژرندے پل دَ هغۀ په غاړه وتړلے شی اَؤ په دریاب
کښے وغورزولے شی. ۴۳ که ستا لاس تاله تیندک درکوی
نو پرے ئے کړه ځکه چه تا له دا غوره ده چه په ژوندانۀ
کښے دَ یو بونډی لاس سره داخل شے په ځائے دَ دے چه
دواړه لاسه لرے اَؤ دوزخ دِ ځائے شی چه نۀ مړ کیدونکے
اور لری. ۴۵ اَؤ که ستا پښه تا له تیندک درکړی نو پرے
ئے کړه ځکه چه دا تا له ښه ده چه په ژوندُون کښے په یوه
پښه ګوډ داخل شے په ځائے دَ دے چه دواړه پښے دِ
روغے وی اَؤ دوزخ دِ ځائے شی. ۴۷ اَؤ که ستا سترګه تا
له تیندک در کړی نو وئے باسه. دا ستا دَ پاره غوره ده چه دَ
خُدائے په بادشاهئ کښے په یوه سترګه داخل شے، نه دا
چه دواړه سترګے لرے اَؤ دوزخ دِ ځائے شی، ۴۸ چرته
چه رغړیدُونکی چینجی چرے نۀ مری اَؤ اور ئے تل تر تله
لمبے وهی.

۴۹ هر څوک به دَ اور سره مالګین کیږی. ۵۰ مالګه یو ښۀ
څیز دے خو که مالګه بے خونده شی نو په څۀ څیز به بیا
خوند پیدا کړی؟

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په خپلو کښې مالګه وساتئ اَؤ دَ یو بل سره په صُلح اوسئ.“

## دَ طلاق په باب کښې تعلیم

متی ۱۹ : ۱ ـ ۱۲، لُوقا ۱۶ : ۱۸

۱۰ ۱ دَ هغه ځائے نه چه عیسیٰ روان شو نو دَ یهودیه
اَؤ اُردن دَ سیند پورے غاړے ته راغے اَؤ هر کله چه ډېر
خلق بیا ترے راچاپیر شول نو دَ دستور په مُطابق هغهٔ بیا
ورته تعلیم شروع کړو.

۲ نو فریسیان ورغلل اَؤ ترے دَ آزمیښت په طور ئے دا
تپوس وکړو، ”آیا یو سړی له دا روا دی چه خپله ښځه طلاقه
کړی؟“ ۳ هغهٔ په جواب کښې تپوس وکړو چه ”مُوسیٰ
تاسو ته څهٔ حُکم کړے وو؟“

۴ هغوئ جواب ورکړو چه ”مُوسیٰ سړی ته دا اِجازت
ورکړے دے چه طلاق نامه دِ ولیکی اَؤ ښځه دِ پرېږدی.“

۵ عیسیٰ هغوئ ته ووئیل چه ”دا حُکم هغهٔ ستاسو دَ زړهٔ دَ
سختوالی په وجه ولیکو. ۶ خو دَ دُنیا دَ پیدائښت نه
خُدائے دوئ ”نر اَؤ ښځه پیدا کړل.“ ۷ ”په دے وجه به
سړے خپل مور پلار پرېږدی اَؤ دَ خپلے ښځے سره به یو
ځائے شی. ۸ اَؤ دواړه به یو وجُود شی“ اَؤ پس له هغے
به دوئ یو وجُود وی اَؤ بیلتون به په کښے نهٔ وی. ۹ هر
څهٔ چه خُدائے یو کړی وی بنی آدم دِ ئے نهٔ جُدا کوی.“

۱۰ اَؤ بیا چه دوی کورته ننوتل نو مُریدانو ترے په دے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حقله تپوس وکړو. ۱۱ هغهٔ هغوئ ته ووئیل، ”هر څوک چه
خپله ښځه طلاقه کړی اَؤ بله وادهٔ کړی نو هغه دَ اولنئ
ښځے خلاف زِنا کوی. ۱۲ اَؤ دغه شان که یوه ښځه خاوند
طلاق کړی اَؤ بل میړهٔ وکړی نو هغه زِنا کوی.“

## وړُوکو ماشومانو له برکت ورکول

متی ۱۹ : ۱۳ ـ ۱۵، لُوقا ۱۸ : ۱۵ ـ ۱۷

۱۳ بیا خلقو دَ دے دَ پاره عیسیٰ له ماشُومان راوستل چه
لاس پرے کیږدی خو مُریدانو هغوئ ورټل. ۱۴ ولے عیسیٰ
چه دا ولیدل نو خفه شو اَؤ هغوئ ته ئے ووئیل چه ”دا
ماشُومان ما ته راپریږدئ چه راشی، دوئ مه منع کوئ ځکه
چه دَ خُدائے بادشاهی دَ دغسے خلقو ده. ۱۵ زَهٔ تاسو ته دا
وایم چه هر څوک چه دَ خُدائے بادشاهی دَ ماشُوم په شان
قبُوله نهٔ کړی هغه به په کښے هیڅ کله ورداخل نهٔ شی.“ ۱۶
بیا ئے دَ هغوئ نه لاسُونه راچاپیره کړل اَؤ خپل لاسُونه ئے
پرے کیښودل اَؤ برکت ئے ورکړو.

## دولتمند سړے

متی ۱۹ : ۱۶ ـ ۳۰، لُوقا ۱۸ : ۱۸ ـ ۳۰

۱۷ عیسیٰ بیا په سفر روانیدو چه یو سړی رادَوُ کړو اَؤ دَ
هغهٔ دَ وړاندے په زنګنُونو شو اَؤ تپوس ئے وکړو، ”اَئے نیکه
اُستاذه! زَهٔ دَ تل ژوندُون وارث کیدو دَ پاره څهٔ وکړم.“

۱۸ عیسیٰ هغهٔ ته ووئیل، ”تهٔ ما ته نیک ولے وایئے؟ دَ
خُدائے نه بغیر بل هیڅوک نیک نِشته. ۱۹ تا ته دا حکمونه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

معلُوم دی چه "قتل مه کوه، زِنا مه کوه، غلا مه کوه، دَ
دروغو گواهی مه کوه، تگی مه کوه اَؤ دَ خپل مور اَؤ پلار
عزت کوه."""

۲۰ خو هغهٔ جواب ورکړو، "اُستاذه! ما دَ هلکوالی راسے په
دے هر څهٔ عمل کړے دے."

۲۱ بیا عیسیٰ هغهٔ ته نیغ وکتل، په هغهٔ ئے مینه راغله اَؤ
وئے وئیل چه "په تا کښے دَ یو څیز کمے دے، لاړ شه اَؤ
څهٔ چه درسره دی هغه خرڅ کړه اَؤ په خوارانو ئے وویشه،
نو ستا خزانه به په آسمان کښے جوړه شی اَؤ بیا راځه په ما
پسے شه." ۲۲ په دے خبره هغه غمژن شو اَؤ په مات زړهٔ
لاړو ځکه چه ډیر مالدار سړے وو.

۲۳ عیسیٰ گیر چاپیر خپلو مُریدانو ته وکتل اَؤ ورته ئے
ووئیل، "دولت مند به څومره په گرانه دَ خُدائے په بادشاهئ
کښے داخلیږی!"

۲۴ هغوئ دَ هغهٔ په دے خبره حق حیران شول خو عیسیٰ په
تاکید سره ووئیل، "بچو! دا څومره گرانه خبره ده چه دَ
خُدائے بادشاهئ ته څوک ورداخل شی. ۲۵ دَ یو دولتمند
سړی دَ خُدائے په بادشاهئ کښے دَ داخلیدو نه دَ یو اُوښ دَ
ستنے له سُوم نه تیریدل آسان دی."

۲۶ هغوئ دَ مخکښے نه هم زیات حیران شول اَؤ یو بل ته
ئے ووئیل، "نو بیا به څوک خلاصے ومُومی؟"

۲۷ عیسیٰ هغوئ ته وکتل اَؤ وئے وئیل، "دَ اِنسان دَ پاره دا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نامُمکنه ده خو دَ خُدائے دَ پاره نه، ځکه چه خُدائے هر څهٔ
کولے شی.“

۲۸ بیا پطروس وئیل شروع کړل، ”مُونږ هر څهٔ پرېښی دی
اَؤ تا پسے روان شوی یُو.“

۲۹ عیسیٰ ورته ووئیل، ”زَهٔ تاسو ته دا وایم چه داسے
هیڅوک نِشته چه زما اَؤ دَ زیری دَ خاطره ئے کور، ورُونه،
خویندے، مور پلار، اولاد یا مزکه پرېښی وی، ۳۰ چه
هغوئ ته به په دے جهان کښے یو په سل اَجر ورنهٔ کړے
شی، کورُونه، ورڼه، خویندے، میندے، اولاد اَؤ مزکه اَؤ
ورسره ربړېدل اَؤ په راتلُونکی جهان کښے دَ تل ژوندون.
۳۱ خو ډېر چه وړُومبی دی هغه به ورستی شی اَؤ ورستی به
وړُومبی شی.“

## په دریم ځل دَ عیسیٰ دَ خپل مرګ اَؤ دَ بیا ژوندی کیدو په باب کښے پیشن ګوئی

متی ۲۰ : ۱۷ ـ ۱۹، لُوقا ۱۸ : ۳۱ ـ ۳۴

۳۲ دوئ دَ بیتُ المُقدس په لار روان وُو اَؤ عیسیٰ ترے
وړاندے وو اَؤ مُریدان هیبت آخستی وُو اَؤ څوک چه
وریسے روان وُو هغوئ ویریدل. هغهٔ هغه دولس مُریدان
ډډے ته کړل اَؤ ورته ئے ووئیل چه هغهٔ ته څهٔ پیښیدُونکی
دی. ۳۳ هغهٔ ورته ووئیل، ”مُونږ اوس بیتُ المُقدس ته حُو
اَؤ اِبن آدم به مشرانو کاهنانو اَؤ دَ شرعے عالمانو ته حواله
کړے شی. هغوئ به پرے دَ قتل حُکم وکړی اَؤ غیر قومُونو
ته به ئے وسپاری. ۳۴ په هغهٔ پورے به ملنډے وکړے شی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اَؤ تُوکانی به پرے وتُوکلے شی، په کروړو به ووهلے شی اَؤ
قتل به ئے کړی، خو درے ورځے پس به هغه بیا ژوندے
پاڅی.“

## دَ یوحنا اَؤ یعقُوب عرض

متی ۲۰ : ۲۰ ـ ۲۸

۳۵ دَ زبدی زامن یعقُوب اَؤ یوحنا ورغلل اَؤ ورته ئے
ووئیل، ”اُستاذه! تهٔ زمُونږ سره یوه مهربانی وکړه.“

۳۶ هغهٔ ورته ووئیل چه ”تاسو زما نه څهٔ غواړئ؟“

۳۷ هغوئ جواب ورکړو، ”مُونږ ته دا اِجازت راکړه چه
مُونږ هم ستا په لوئی کښے تا سره، یو ستا ښی لاس ته اَؤ بل
گس لاس ته یو ځائے کښینو“

۳۸ عیسیٰ هغوئ ته ووئیل، ”تاسو چه څهٔ غواړئ په هغے نهٔ
پوهیږئ. کُومه دَ مصیبت پیالئ چه زَهٔ څښم، آیا هغه تاسو
څښلے شئ؟ یا هغه بپتسمه آخستلے شئ چه پرے زما
بپتسمه کیږی؟“

۳۹ هغوئ جواب ورکړو، چه ”هو، مُونږ ئے کولے شُو.“

عیسیٰ ورته ووئیل چه ”کُومه پیاله چه زَهٔ څښم، تاسو به ئے
وڅښئ، اَؤ په کُومه بپتسمه چه به زما بپتسمه کیږی، په هغے
به ستاسو بپتسمه هم کیږی. ۴۰ خو دا اِختیار زما نهٔ دے
چه څوک دِ زما ښی یا گس لاس ته کښینی، دا دَ هغه چا دَ
پاره دے څوک چه دَ مخکښے نه په دے مُقرر شوی دی.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴۱ هر کله چه نورو لسو دا واؤریدل نو هغوئ دَ یعقُوب اَؤ
یوحنا نه خفه شول. ۴۲ عیسیٰ هغوئ ځان ته راوبلل اَؤ ورته
ئے ووئیل، "تاسو خبر یئ چه منلی شوی بادشاهان په خپل
رعیت حکُومت کوی اَؤ امیران ئے پرے خپل اِختیار ښئی.
۴۳ خو ستاسو دَ پاره داسے نۀ دی. په تاسو کښے چه
څوک مشری غواړی هغه دِ ستاسو خدمتګار شی. ۴۴ اَؤ
څوک چه په تاسو کښے اَول کیدل غواړی هغه دِ دَ ټولو غُلام
شی. ۴۵ ځکه چه اِبن آدم هم دَ دے دَ پاره نۀ دے راغلے
چه خدمت واخلی بلکه دَ دے دَ پاره راغلے دے چه دَئے دَ
نورو خدمت وکړی اَؤ چه خپل ژوندُون دَ ډیرو په بدل کښے
په فدیه ورکړی."

## دَ ړُوند برتیمائ بینا کول

متی ۲۰ : ۲۹ ـ ۳۴، لُوقا ۱۸ : ۳۵ ـ ۴۳

۴۶ هغوئ یریحو ته راغلل اَؤ عیسیٰ دَ ښاریئے نه وتو اَؤ ګڼ
خلق اَؤ مُریدان ورسره وُو، نو دَ تمیائ زوئے برتیمائ څوک
چه یو ړُوند فقیر وو دَ لارے په غاړه ناست وو. ۴۷ چه په
دے خبر شو چه دا عیسیٰ ناصری دے نو هغۀ چغے کړے،
"اَئے عیسیٰ دَ داؤد زویه! په ما رحم وکړه!"

۴۸ ډیرو خلقو ورته ووئیل چه "چپ شه،" خو هغۀ چغے
نورے هم زیاتے کړے، "اَئے دَ داؤد زویه! په ما رحم
وکړه!"

۴۹ عیسیٰ ودریدلو اَؤ وے وئیل، "دَئے راوبلئ."

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو هغوئ هغه ړُوند سړے راویللو اَوۀ ورته ئے ووئيل، ”پاڅۀ!
زړۀ ور شه، هغه دِ غواړی.“

۵۰ په دے هغۀ خپله چُوغه وغورزوله، سمدستی پورته شو
اَوۀ عيسیٰ ته راغے. ۵۱ عيسیٰ هغۀ ته ووئيل، ”زَۀ ستا څۀ
خدمت وکړم؟“

هغه سړی جواب ورکړو، ”اُستاذه! زَۀ بينا کيدل غواړم.“

۵۲ عيسیٰ هغۀ ته ووئيل، ”ځه! خپل ايمان تۀ جوړ کړلے،“

نو سمدستی هغه بينا شو اَوۀ په هغۀ پسے روان شو.

## دَ فتحمندئ په طور په بيتُ المُقدس کښے داخليدل

متی ۲۱ : ۱ ـ ۱۱، لُوقا ۱۹ : ۲۸ ـ ۴۰، يوحنا ۱۲ : ۱۲ ـ ۱۹

۱۱ ۱ هغوئ چه بيتُ المُقدس ته رانزدے شول اَوۀ چه
بيتِ فگے اَوۀ بيتِ عنياه ته دَ ښونانو غرۀ ته ورسيدل نو
عيسیٰ خپل دوه مُريدان دَ دے هداياتو سره وليږل، ۲ ”دے
مخامخ کلی ته ورشئ. سمدستی چه ورننوزئ نو تاسو به يو
کُوچے ترلے ومُومئ چه تر اوسه پرے څوک سوارۀ شوی
نۀ دی. هغه پرانزئ اَوۀ دلته ئے راولئ. ۳ که څوک درنه
تپوس وکړی چه دا څۀ کوئ؟ نو ورته ووايئ چه زمُونږ دَ
مالِک په کار دے اَوۀ هغه به ئے سمدستی دلته بيرته
راواستوی.“

۴ هغوئ لاړل اَوۀ دَ دروازے نه بهر ئے په کُوڅه کښے هغه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کُوچے ترلے ومُوندلو. هغوئ هغه پرانستو، ۵ اَؤ په ولاړو
خلقو کښې ځنو ورته ووئيل چه "دا څۀ کوئ چه دا کُوچے
پرانزئ؟"

۶ نو دوئ هغه جواب ورکړو چه عيسىٰ ورته وئيلى وُو، نو
بيا ئے پرېښودل چه بوئے ځى. ۷ نو هغوئ عيسىٰ له
کُوچے راوستو اَؤ خپلے جامے ئے پرے واچولے اَؤ هغه
پرے سور شو. ۸ اَؤ خلقو ورته په لارو کښې خپلے
جامے وغوړولے اَؤ نورو دَ پټو نه څانگے پرېکړلے اَؤ ورته
ئے خورے کړلے. ۹ اَؤ څومره خلق چه مخکښې تلل اَؤ
هغه چه وروستو راتلل، هغوئ چغے ايستے، "ثنا په هغه چا
چه دَ رب په نُوم راځى! ۱۰ زمُونږ دَ پلار داؤد راتلُونکے
بادشاهى دِ مُبارک شى! په آسمان کښې هم ثنا!"

۱۱ هغه بيتُ المُقدس ته راغے اَؤ دَ خُدائے کور ته ننوتو اَؤ
گير چا پير ئے وکتل، خو هر کله چه ماښام شو نو هغه دَ
دولسو مُريدانو سره بيتِ عنياه ته لاړو.

## دَ اينځر په ونے لعنت کول

متى ۲۱ : ۱۸ - ۱۹

۱۲ په بله ورځ چه هغوئ دَ بيتِ عنياه نه ووتل نو هغه وږے
شو. ۱۳ اَؤ دَ لرے نه ئے چه دَ اينځر يوه شنه ونه وليده نو
هغه ورغے چه وگورى که هغه په کښې څۀ ومُومى. خو هر
کله چه هغه هلته ورغے نو بے له پاڼو ئے په کښې هيڅ ونۀ
موندل ځکه چه دا دَ اينځر موسم نۀ وو. ۱۴ هغۀ ونے ته
ووئيل چه "بيا به هيڅوک هم هيڅ کله ستا نه ميوه ونۀ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خوری.“ اَؤ دَ هغهٔ مُریدانو دا آؤریدل.

## دَ خدائے دَ کور پاکول

متی ۲۱ : ۱۲ ـ ۱۷، لُوقا ۱۹ : ۴۵ ـ ۴۸، یوحنا ۲ : ۱۳ ـ ۲۲

۱۵ بیا هغوئ بیتُ المُقدس ته راغلل. عیسیٰ دَ خُدائے کور
ته لاړو اَؤ چا چه دَ خُدائے په کور کښے سوداګری کوله دَ
هغوئ په ویستو ئے ګوتے پورے کړے، هغهٔ دَ صرافانو
تختے نسکورے کړے اَؤ دَ کونترو خرخؤونکو دُونکاچے
ئے هم واړَولے. ۱۶ اَؤ دَ خُدائے دَ کور په غولی کښے ئے
دَ خیزُونو وړل راوړل نهٔ پریښودل. ۱۷ نو بیا ئے هغوئ ته
تعلیم ورکول شروع کړو اَؤ وئے وئیل، ”آیا صحیفے دا نهٔ
وائی چه، ”زما کور به دَ ټولو قومُونو دَ پاره دَ دُعا کور بللے
شی؟“ خو تاسو ترے دَ ډاکوانو غار جوړ کړے دے.“

۱۸ مشرانو کاهنانو اَؤ دَ شرعے عالمانو چه دا واؤریدل نو
کوشش ئے کاوو چه هغه په څهٔ چل هلاک کړی خو هغوئ
ویریدل ځکه چه ټول خلق دَ هغهٔ تعلیم په تعجب آخستی وُو.

## دَ اینځر دَ وچے شوے ونے سبق

متی ۲۱ : ۲۰ ـ ۲۲

۱۹ اَؤ چه ماښام شو نو عیسیٰ دَ ښار نه بهر ووتو. ۲۰ بله
ورځ سحر وختی چه هغوئ په لاره تیریدل نو هغوئ ولیدل
چه هغه دَ اینځر ونه له بیخ نه وچه شوے ده. ۲۱ اَؤ پطروس
هغه خبره رایاده کړه څهٔ چه تیره شوے وه اَؤ هغهٔ ته ئے
ووئیل، ”اُستاذه! ګوره دَ اینځر کُومے ونے ته چه تا لعنت

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړے وو هغه وچه شوے ده.“

۲۲ عيسیٰ ورته جواب ورکړو چه ”په خُدائے ايمان لرئ.
۲۳ زَۀ تاسو ته دا وايم چه که څوک دے غر ته ووائی چه دَ
خپله ځايه پورته شه اَؤ په درياب کښے وغورزيږه، اَؤ په زړۀ
کښے ئے شک نۀ وی اَؤ ايمان لری، نو هر څۀ چه وائی هغه
به دَ هغۀ دَ پاره وشی. ۲۴ ځکه زَۀ تاسو ته وايم چه دَ هر څۀ
دَ پاره چه تاسو دُعا يا سوال کوئ نو په دے يقين ولرئ چه
دا تاسو حاصل کړو، نو ستاسو به شی. ۲۵ اَؤ هر کله چه
تاسو دُعا ته ودريږئ نو که ستاسو په زړۀ کښے دَ چا خلاف
خبرے وی، نو هغه معاف کړئ، دَ دے دَ پاره چه ستاسو
آسمانی پلار ستاسو قصُورونه هم معاف کړی. ۲۶ خو که
چرے تاسو نور خلق نۀ معاف کوئ نو ستاسو آسمانی پلار
به هم ستاسو کړی گُناهُونه معاف نۀ کړی.“

## دَ عيسیٰ دَ اِختيار په حقله سوال

متی ۲۱ : ۲۳ ـ ۲۷، لُوقا ۲۰ : ۱ ـ ۸

۲۷ هغوئ يو ځل بيا بيتُ المُقدس ته راغلل اَؤ کله چه دَ
خُدائے په کور کښے گرزيدو نو مشران کاهنان، دَ شرعے
عالمان اَؤ اولسی مشران ورته راغلل، ۲۸ اَؤ وئے وئيل، ”دا
چه تۀ څۀ کوے، دا په کُوم اِختيار کوے؟ چا تا له دا اِختيار
درکړو چه تۀ داسے وکړه؟“

۲۹ عيسیٰ هغوئ ته ووئيل، ”زَۀ هم له ستاسو نه يو تپوس
کوم اَؤ که تاسو ئے ما له جواب راکړئ نو زَۀ به هم تاسو ته
دا وښايم چه په کُوم اِختيار زَۀ دا کارُونه کوم. ۳۰ دَ يحيیٰ دَ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بپتسمه ورکولو اِختیار دَ خُدائے دَ طرفه وو که دَ بنی آدمو
نه؟ جواب راکړئ!“

۳۱ په دے سوال هغوئ په خپلو کښے په بحث شول چه
”مُونږ څۀ ووایُو؟ که مُونږ دا وایُو چه له خُدایه، نو هغه به
ووائی، نو تاسو بیا ولے په هغۀ یقین ونۀ کړو؟ ۳۲ اَؤ که دا
وایُو چه له اِنسان نه،“ نو بیا دوئ دَ خلقو نه ویریدل ځکه چه
دَ ټولو خلقو دا یقین وو چه یحییٰ نبی وو. ۳۳ نو دوئ
جواب ورکړلو چه ”مُونږ هیڅ خبر نۀ یُو.“

اَؤ عیسیٰ هغوئ ته ووئیل چه ”بیا به زَۀ هم تاسو ته دا ونۀ
وایم چه په کُوم اِختیار زَۀ دا کارُونه کوم.“

## دَ انګورو باغ اَؤ دَ باغوانانو مِثال

متی ۲۱ : ۳۳ ـ ۴۶، لُوقا ۲۰ : ۹ ـ ۱۹

۱۲ ۱ عیسیٰ هغوئ ته بیا په مِثالُونو کښے خبرے
شروع کړے. ”یو سړی دَ انګُورو باغ ولګوو اَؤ شپول ئے
ترے تاؤ کړو اَؤ دَ مئے حوض ئے په کښے ولګولو اَؤ دَ
څوکئ یو برج ئے هم په کښے جوړ کړو. بیا ئے دَ انګورو
باغوانانو ته په اِجاره ورکړلو اَؤ بل ملک ته لاړو. ۲ کله چه
موسم دَ بره شو نو هغۀ اِجاره دارو ته یو خدمتګار
ورواستولو چه دَ هغوئ نه خپله برخه آمدن وصُول کړی.
۳ خو هغوئ هغه ونیولو، وَئے وهلو اَؤ تش لاس ئے واپس
ولیږلو. ۴ بیا هغۀ یو بل خدمتګار ورواستولو اَؤ دَئے هم
هغوئ په سر سر وټکولو اَؤ ډیر ئے بے عزته کړو. ۵ بیا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغهٔ یو بل وروليږلو اَؤ هغه دوئ مړ کړو. اَؤ دَ دَهٔ نه علاوه
دغسے نور هم وُو، څوک ئے ووهل اَؤ څَنے ئے مړهٔ کړل.
٦ اَؤ اوس دَ دَهٔ سره یو کس پاتے وو، دَ هغهٔ خپل نازولے
زوئے. په آخر کښے ئے هغه ورواستولو. هغهٔ ووئیل چه زما
دَ زوی لحاظ خو به وکړی. ٧ خو اِجاره دارو یو بل ته
ووئیل چه هم دغه خو وارث دے، راځئ چه مړ ئے کړُو اَؤ
جائیداد به ئے زمُونږ شی. ٨ نو هغوئ هغه ونیولو اَؤ مړ
ئے کړو اَؤ دَ هغهٔ لاش ئے دَ باغ نه بهر وغورزولو.

٩ دَ باغ مالِک به اوس څهٔ کوی؟ هغه به راشی اَؤ اِجاره
دار به مړهٔ کړی اَؤ دَ انګُورو باغ به بل چا ته حواله کړی. ١٠
آیا تاسو په مُقدس کتاب کښے دا چرے نهٔ دی لوستی؟

”کُوم کاڼے چه ګلکارانو رد کړے وو

هم هغه دَ ګوټ سر ګاڼے شو.

١١ دا دَ رب کارُونه دی

اَؤ زمونږ په نظر کښے عجیبه ښکاری.““

١٢ بیا هغوئ داسے څهٔ بهانه لټوله چه هغه ګرفتار کړی
ځکه چه هغوئ پوهیدل چه دا مِثال دَ هغوئ په حق کښے
وو، خو هغوئ دَ خلقو نه ویریدل نو هغوئ هغه یواځے
پریښودو اَؤ ترے نه لاړل.

## دَ رُوم قیصر له خراج ورکول

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

متی ۲۲ : ۱۵ ـ ۲۲، لُوقا ۲۰ : ۲۰ ـ ۲۶

۱۳ بیا هغوئ څو فریسیان اَؤ هیرودیان ورواستول چه
عیسیٰ په خبرو کښے راګیر کړی. ۱۴ هغوئ راغلل اَؤ وئے
وئیل، "اُستاذه! مُونږ خبر یُو چه تهٔ یو رښتینے سړے ئے اَؤ
دَ هیچا پرواه‌دار نهٔ یئے، خواه که هغه څوک هم وی، خو تهٔ دَ
خُدائے دَ لارے تعلیم په رښتیا سره ورکوے. آیا مُونږ ته دا
روا دی که نه، چه دَ رُوم قیصر له خراج ورکړُو؟ مُونږ ئے
ورکوُو اَؤ که نه؟" ۱۵ هغه پوهه شو چه دَ دوئ دا سوال
څومره دَ چل نه ډک دے اَؤ وئے وئیل، "تاسو زما دَ
راګیرولو کوشش ولے کوئ؟ ما ته دَ سپینو زرو یوه سکه
راؤړئ چه زَهٔ ورته وګورم."

۱۶ هغوئ یوه سکه راؤړه اَؤ هغهٔ هغوئ ته ووئیل چه "دا دَ
چا تصویر اَؤ دَ چا نُوم دَے؟"

هغوئ جواب ورکړو، "دا دَ قیصر دی."

۱۷ بیا عیسیٰ ورته ووئیل، "څهٔ چه دَ قیصر وی هغه قیصر
له ورکړئ اَؤ څهٔ چه دَ خُدائے وی هغه خُدائے له ورکړئ."
هغوئ دَ دَهٔ په خبرو ډیر حیران شول.

## دَ قیامت په باب کښے سوال

متی ۲۲ : ۲۳ ـ ۳۳، لُوقا ۲۰ : ۲۷ ـ ۴۰

۱۸ بیا ورته صدُوقیان راغلل، دا هغه خلق دی چه دَ قیامت
نه مُنکر دی. هغوئ دا سوال وکړو، ۱۹ "اُستاذه! مُوسیٰ
زمُونږ دَ پاره دا فرمان کړے دے چه که چرے دَ یو سړی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورور مړی شی اَؤ بے اؤلاده ښځه ترے پاتے شی نو هغه بل
دِ دَ ورور ښځه واخلی اَؤ دَ هغهٔ نسل دِ جاری وساتی. ۲۰
اوس اُووهٔ وروڼه وُو، وړُومبی وادهٔ وکړو اَؤ بے اؤلاده مړ
شو. ۲۱ بیا هغه ښځه دویم واخسته اَؤ هغه هم بے اؤلاده مړ
شو اَؤ دغه شان دریم وکړل. ۲۲ آخر اُووهٔ واړه مړهٔ شول
اَؤ دَ ټولو اؤلاد ونهٔ شو. آخر هغه ښځه هم مړه شوه. ۲۳ چه
قیامت راشی اَؤ دوئ ټول ژوندی شی نو ښځه به دَ چا وی؟
ولے چه اُووهٔ واړو ورسره وادهٔ کړے وو"

۲۴ عیسیٰ هغوئ ته ووئیل، "تاسو په غلطه یئ اَؤ هم دغه
وجه ده چه نهٔ خو تاسو په کتابِ مُقدس پوهیږئ اَؤ نهٔ دَ
خُدائے په قدرت. ۲۵ کله چه هغوئ بیا راژوندی کړے شی
نو سړی اَؤ ښځے به یو بل سره وادهٔ نهٔ کوی. هغوئ به دَ
آسمان دَ فرښتو په شان وی. ۲۶ خو دَ قیامت په ورځے دَ
مړو دَ بیا راژوندی کیدو په بابت، آیا تاسو دَ مُوسیٰ په کتاب
کښے هیڅ نهٔ دی لوستی، دَ سوزیدُونکی بوټی په قصه
کښے، چه خُدائے ورته څنګه مُخاطب شو اَؤ ورته ئے
ووئیل، "زهٔ دَ اِبراهیم خُدائے، دَ اِسحاق خُدائے اَؤ دَ یعقُوب
خُدائے یم؟" ۲۷ خُدائے دَ مړو خُدائے نهٔ دے بلکه دَ ژوندو
خُدائے دے! تاسو ډیر ګُمراه شوی یئ."

## لوئے حُکم

متی ۲۲ : ۳۴ ـ ۴۰، لُوقا ۱۰ : ۲۵ ـ ۲۸

۲۸ بیا دَ شرعے په عالمانو کښے یو کس چه دَ دوئ دا
بحث ئے آؤریدو اَؤ پوهه شو چه هغهٔ دوئ ته څنګه ښهٔ
جواب ورکړو، راوړاندے شو. تپوس ئے ترے وکړو، "کُوم

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یو حُکم دَ ټولو نه لوئې دے؟“

۲۹ عیسیٰ جواب ورکړو، ”اَول دا دے چه، ”اَئے اِسرائیله
واؤره! مالِک زمُونږ خُدائے یو مالِک دے. ۳۰ تهٔ دَ مالِک دَ
خپل خُدائے سره دَ ټول زړهٔ سره، دَ خپل ټول رُوح، دَ خپل
ټول عقل اَؤ دَ خپل ټول طاقت سره مینه کوه.“ ۳۱ دویم دا
دے چه، ”دَ خپل ګاونډی سره لکه دَ ځان مینه کوه.“ دَ دے
حُکمونو نه بل لوئې حُکم نشته.“

۳۲ نو شرعے عالم هغهٔ ته ووئیل، ”آفرین اُستاذه! ډیر دِ ښهٔ
ووئیل، تهٔ رښتیا وائې چه خُدائے یو دے اَؤ بے له هغهٔ نه
بل نِشته. ۳۳ اَؤ دَ هغهٔ سره دَ ټول زړهٔ دَ اِخلاصه په پوهه
سره اَؤ په ټول طاقت سره مینه ولرئ اَؤ دَ خپل ځان په شان
دَ خپل ګاونډی سره مینه کوئ، نو دا دَ بلے هرے یوے
سوزیدُونکی قُربانئ یا نذرانے نه ډیر غوره کار دے.“

۳۴ هر کله چه عیسیٰ ولیدل چه هغهٔ څومره په پوهه سره
جواب ورکړو نو هغهٔ ورته ووئیل چه ”تهٔ دَ خُدائے دَ
بادشاهئ نه لرے نهٔ یئے.“ دَ دے نه پس بیا چا همت ونهٔ
کړو چه عیسیٰ نه نور تپوسُونه وکړی.

## دَ داؤد دَ زوی په حقله سوال

متی ۲۲ : ۴۱ ـ ۴۶، لُوقا ۲۰ : ۴۱ ـ ۴۴

۳۵ اَؤ بیا عیسیٰ دَ خُدائے په کور کښے تعلیم ورکړو.
داسے ئے ووئیل، ”نو دَ شرعے عالمان دا څنګه وائی چه
مسیح دَ داؤد زوئے دے؟ ۳۶ داؤد په خپله دَ رُوحُ القُدس دَ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اثر لاندے دا وئیلی دی چه :

”مالِک زما مالک ته ووئیل،

زما ښی لاس ته کښینه

تر هغے چه زهٔ ستا دُښمنان ستا دَ پښو لاندے نهٔ کړم.“

٣٧ داؤد په خپله هغهٔ ته مالِک وائی، نو بیا هغه دَ داؤد
زوئے څرنګه کیدے شی؟“

## دَ شرعے عالمان ملامت کول

متی ٢٣ : ١ ـ ٣٦، لُوقا ٢٠ : ٤٥ ـ ٤٧

هلته ډیره ګڼه وه اَؤ ډیر په مینه ئے دَ دَهٔ خبرے اَؤریدے.
٣٨ عیسیٰ په خپل تعلیم کښے دوئ ته ووئیل چه ”دَ شرعے
دَ عالمانو نه خبردار اوسئ، هغوئ دا خوښوی چه دوئ
چُوغے آغوستے وی اَؤ دیخوا اخوا ځی راځی اَؤ په کُوڅو
کښے دَ خلقو نه دَ عزت سلامُونه آخلی، ٣٩ اَؤ په عبادت
خانو کښے دَ مشرئ ځائے غواړی اَؤ په میلمستیا کښے دَ
عزت په ځائے کښینی ٤٠ دا هغه خلق دی چه دَ کونډو
مالُونه خوری اَؤ دَ ریا اُوږدے اُوږدے دُعاګانے کوی، دوئ
به دَ ټولو نه سخته سزا مُومی.“

## دَ یوے کُنډے ښځے شکرانه

لُوقا ٢١ : ١ ـ ٤

٤١ یو ځلے عیسیٰ دَ خُدائے دَ کور خزانے ته مخامخ
ناست وو اَؤ دا ننداره ئے کوله چه خلق په خزانه کښے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پیسے خنګه اچوی. ډیرو مالدارو خلقو ډیرے زیاتے پیسے
واچولے. ۴۲ په دے کښے یوه خواره کُنډه راغله اَؤ دوه
دَمَړی ئے په کښے وروا چول چه دواړه دَ نیمے پیسے برابر
وُو. ۴۳ هغهٔ خپل مُریدان ځان ته راوبلل اَؤ ورته ئے ووئیل،
”زهٔ تاسو ته دا وایم چه دے خوارے کُنډے دَ هر چا نه
زیات ورکړل. ۴۴ ځکه چه هغه نورو چه څهٔ ورکړل دَ هغو
سره دَ ضرورت نه زیات وُو، خو هغے چه څهٔ ورسره نهٔ وُو
خپل دَ ګذارے هر څهٔ ئے ورکړل.“

## دَ خُدائے دَ کور دَ بربادئ په باب کښے پیشن ګوئی

متی ۲۴ : ۱ ـ ۲، لُوقا ۲۱ : ۵ ـ ۶

۱۳ ۱ څهٔ وخت چه عیسیٰ دَ خُدائے دَ کور نه راوتو نو
دَ هغهٔ یو مُرید ورته ووئیل، ”ګوره اُستاذه! څومره لوئے ګاڼی
دی! اَؤ څهٔ ښکلی مکانُونه دی!“

۲ عیسیٰ هغهٔ ته ووئیل، ”تهٔ دا لوئے لوئے مکانُونه وینے؟
په دے کښے به یوه ګټه هم دَ بلے دَ پاسه پاتے نهٔ شی اَؤ
ټولے به راونړولے شی.“

## دَ تکلیفُونو شروع

متی ۲۴ : ۳ ـ ۱۴، لُوقا ۲۱ : ۷ ـ ۱۹

۳ اَؤ هر کله چه عیسیٰ دَ ښونانو په غرهٔ دَ خُدائے کور ته
مخامخ ناست وو نو پطروس، یعقُوب، یوحنا اَؤ اندریاس

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ترے نه جُدا تپوس وکړو، ۴ "مُونږ ته ووايه چه دا کار به
کله کيږی اَؤ دَ دے ټولو دَ پُوره کيدو نخښے نښانے به څهٔ
وی؟" ۵ عيسىٰ ووئيل چه "پام کوئ چه څوک مو بے
لارے نهٔ کړی. ۶ داسے به ډير راشی چه زما دَ نُوم دعوىٰ
به کوی اَؤ وائی به چه زَهٔ هغه يم، اَؤ ډير خلق به بے لارے
کړی. ۷ هر کله چه تاسو دَ لړے اَؤ نزدو جنګُونو خبر
واؤرئ نو وار خطا کيږئ مه ځکه چه دا خبرے به ضرور
پيښيږی خو آخر وخت به لا نهٔ وی راغلے. ۸ قومُونه به دَ
قومُونو سره په جنګ وی، بادشاهئ به دَ بادشاهو سره، په
ډيرو ځايُونو کښے به زلزلے اَؤ قحطُونه راځی ولے دا به دَ
تکليفونو شروع وی.

۹ خو تاسو ترے ځان بيدار ساتئ. تاسو به عدالتُونو ته
حواله کيږئ، تاسو به په عبادت خانو کښے په کروړو وهلے
شئ اَؤ تاسو به دَ حاکمانو اَؤ بادشاهانو دَ وړاندے پيش
کولے کيږئ چه زما په باب دَ هغوئ په وړاندے اِقرار وکړئ.
۱۰ خو دَ خاتمے نه وړاندے به زما دَ زيری وعظ ټولو
قومُونو ته وکړے شی. ۱۱ نو هر کله چه تاسو ګرفتار شئ
اَؤ عدالت ته بوتلے شئ نو دَ اول نه دا سوچ مه کوئ چه
تاسو به څهٔ وايئ. خو هر کله چه وخت راشی نو هغه وخت
چه څهٔ دَ وينا دَ پاره درکړے شی هغه وايئ، ځکه چه دا به
ستاسو خبرے نهٔ وی بلکه ستاسو په ژبه رُوحُ القُدس ګويا
وی. ۱۲ ورور به دَ ورور دَ مرګ مُخبر شی اَؤ پلار دَ زوئے،
بچی به دَ خپل مور پلار خلاف شی اَؤ هغوئ به وژنی. ۱۳
ټول به زما دَ نُوم په سبب تاسو سره کينه لری، خو کُوم
سړے چه تر آخره صبر وکړی هغه به بچ شی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# لوئے مُصیبت

متی ۲۴ : ۱۵ ـ ۲۸، لُوقا ۲۱ : ۲۰ ـ ۲۴

۱۴ هر کله چه تاسو ووینئ چه هغه ”برباد کوُونکی پلیت
شئے“ په هغه ځائے کښے ولاړ دے چرته چه نۀ دے پکار،
نو لوستُونکی دِ پوهه شی. نو هغه څوک چه په یهودیه کښے
وی هغوئ دِ غرُونو ته وتښتی. ۱۵ که څوک سړے دَ چت دَ
پاسه وی هغه دِ کله هم کور ته لاندے راکُوز نۀ شی چه څۀ
ترے وباسی. ۱۶ اَؤ که څوک په پټی کښے وی نو هغه دِ په
خپله چُوغه پسے راونۀ ګرزی. ۱۷ اَفسوس دے په هغه
ښځو چه په هغو ورځو کښے اُمیدوارے وی اَؤ په هغو چه
بچو ته تی ورکوی. ۱۸ دُعا کوئ چه دا په ژمی کښے پیښ
نۀ شی. ۱۹ ځکه چه دَ کله نه خُدائے پاک دا دُنیا پیدا کړے
ده، داسے تنګسیا اَؤ بده ورځ لا تر اوسه نۀ خو راغلے ده اَؤ
نۀ به چرے بیا راشی. ۲۰ که چرے مالِک دغه دَ تکلیف
ورځے کمے کړے نۀ وئے نو هیڅ یو بشر به هم ژوندے نۀ
وۀ پاتے، خو دَ خپلو غوره کړو دَ خاطره هغۀ دا ورځے
کمے کړے.

۲۱ بیا که چرے څوک تاسو ته دا ووائی چه ګورئ! مسیح
دلته دے یا هلته دے، نو یقین پرے مه کوئ. ۲۲ ولے چه
داسے خلق به راځی چه ځان ته به مسیح اَؤ نبیان وائی خو
وی به نه، اَؤ عجیبه کارُونه به ښکاره کوی، اَؤ که مُمکن وی
نو غوره کړی خلق به وغلوی. ۲۳ خو تاسو خبردار اوسئ،
ما تاسو دَ اول نه په دے خبر کړئ.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## دَ اِبن آدم راتلل

متی ۲۴ : ۲۹ ـ ۳۱، لُوقا ۲۱ : ۲۵ ـ ۲۸

۲۴ خو په هغه ورځو کښے دَ دے تنګسيا نه پس به نمر تور
شی اَوْ سپوږمئ به رڼا نهٔ کوی. ۲۵ ستوری به دَ آسمان نه
راغورزيږی، دَ آسمان طاقتُونه به ولړزولے شی. ۲۶ بيا به
هغوئ ووينی چه اِبن آدم هغوئ په وريځو کښے په لوئے
قُدرت اَوْ ډير شان اَوْ شوکت سره راځی. ۲۷ اَوْ هغه به
فرښتے واستوی اَوْ دَ آسمان دَ څلورو غاړو نه اوْ دَ دُنيا دَ
آخری حدُونو نه به خپل غوره کړی خلق راغُونډ کړی.

## دَ اينځر دَ ونے سبق

متی ۲۴ : ۳۲ ـ ۳۵، لُوقا ۲۱ : ۲۹ ـ ۳۳

۲۸ دَ اينځر دَ ونے نه سبق واخلئ. کله چه دَ هغے نرمے
څانګے غوټئ ونيسی، پاڼے وکړی نو تاسو پوهه شئ چه
اوړے په راتلو دے. ۲۹ هم دغه شان چه تاسو دا ټولے
علامے ووينئ نو تاسو پوهه شئ چه هغه نزدے دے اَوْ په
دروازه کښے ولاړ دے. ۳۰ زهٔ تاسو ته دا وايم چه دا
موجُوده پيړئ به تيره نهٔ شی تر څو چه دا ټولے خبرے ونهٔ
شی. ۳۱ مزکه اَوْ آسمانونه به فنا شی خو زما کلام به
هيچرے فنا نهٔ شی.

## نامعلُومه ورځ اَوْ ساعت

متی ۲۴ : ۳۶ ـ ۴۴

۳۲ خو دَ هغے ورځے اَوْ هغه ساعت پته هيچا ته نِشته، نهٔ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دَ آسمان فرښتو ته اَوُ نهٔ زوئے ته، خو يواځے يو پلار پرے
خبر دے. ۳۳ خبردار شئ، ويښ اوسئ تاسو دَ دے نه خبر
نهٔ يئ چه هغه وخت به کله راځى. ۳۴ دَ دے مِثال دَ هغه
سړى دے چه دَ کوره لرے وى اَوُ څهٔ وخت چه خپل کور نه
تلو نو خپلو غُلامانو ته ئے اِختيار ورکړو چه هر يو دِ خپل
کار کوى اَوُ څوکيدار ته ئے حُکم ورکړو چه بيدار اوسه.
۳۵ نو بيا تاسو بيدار اوسئ ځکه چه تاسو په دے نهٔ يئ خبر
چه دَ کور مالِک کله راځى، ماښام که په نيمه شپه، په چرګ
بانګ که سحر په خړه. ۳۶ که چرے هغه ناڅاپه راشى نو
چه هغه مو اُودهٔ لاندے نهٔ کړى. ۳۷ اَوُ زَهٔ چه څهٔ تاسو ته
وايم نو ټولو ته ئے وايم چه بيدار اوسئ.“

## دَ عيسىٰ دَ قتل کولو سازش

متى ۲۶ : ۱ ـ ۵، لُوقا ۲۲ : ۱ ـ ۲، يوحنا ۱۱ : ۴۵ ـ ۵۳

۱۴ ۱ نو دَ فسح اَوُ دَ پتيرے ډوډئ اختر ته دوه ورځے
پاتے وے اَوُ مشرانو کاهنانو اَوُ دَ شرعے عالمانو څهٔ داسے
دَ ټګئ اِلزام لټوو چه عيسىٰ پرے ونيسى اَوُ وئے وژنى. ۲
هغوئ ووئيل چه ”دا دِ دَ اختر په ورځو کښے نهٔ وى، هسے
نهٔ چه په خلقو کښے فساد جوړ شى.“

## په بيتِ عنياه کښے دَ عيسىٰ په سر عطر اچول

متى ۲۶ : ۶ ـ ۱۳، يوحنا ۱۲ : ۱ ـ ۸

۳ عيسىٰ دَ شمعُون جُذامى په کور کښے په بيتِ عنياه
کښے وو. کله چه هغه ډوډئ ته کښيناستو، يوه ښځه راغله

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اَؤ ډير قيمتى خالِص عطر ئے په عطر دان کښے راوړل.
هغے عطردان خلاص کړو اَؤ دَ هغهٔ په سر ئے عطر واچول.
۴ په حاضر مجلس کښے څئنے کسانو په غُصه کښے
ووئيل چه "دا څهٔ فضُول خرچى ده؟ ۵ ځکه چه دا عطر
خو به په دريو سوو روپو خرڅ شوی وئے اَؤ پيسے به ئے
خوارانو ته ورکړے شوے وئے." نو هغوئ هغے ته غصه
وکړه.

۶ خو عيسىٰ ووئيل، "دا پرېږدئ، تاسو دا ولے تنګوئ؟
هغے زما سره ډير ښهٔ کړی دی. ۷ ځکه چه خواران خو
به تل تاسو سره وی اَؤ هر کله چه تاسو غواړئ دَ هغوئ مدد
کولے شئ خو زَهٔ به تل تاسو سره نهٔ يم. ۸ هغے نه چه
څهٔ کيدے شول، هغه ئے ما سره وکړل. هغے دَ ښخولو نه
وړاندے زما په بدن عطر واچول. ۹ زَهٔ تاسو ته دا وايم چه
دَ دُنيا په مخ چه چرته هم زما دَ زيری وعظ کيږی نو څهٔ چه
دے کړی وی دا به دَ دے دَ يادګار په طور يادولے شی."

## دَ يهوداه اِسکريوتى په عيسىٰ مُخبری کولو ته راضى کيدل

متى ۲۶ : ۱۴ ـ ۱۶، لُوقا ۲۲ : ۳ ـ ۶

۱۰ نو بيا يهوداه اسکريوتى چه په هغه دولسو مُريدانو کښے
يو وو، مشرانو کاهنانو ته لاړو اَؤ په عيسىٰ ئے مُخبری وکړه.
۱۱ چه هغوئ دَ هغهٔ دَ راتلو دَ غرض نه خبر شول نو هغوئ
ډير خوشحاله شول اَؤ دَ هغهٔ سره ئے دَ پيسو لوظ وکړو، اَؤ
هغه دَ داسے ښے موقعے په تلاش کښے شو چه په هغهٔ
مُخبری وکړی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## دَ مُریدانو سره فسح خوړل

متی ۲۶ : ۱۷ ـ ۲۵، لُوقا ۲۲ : ۷ ـ ۱۴، ۲۱ ـ ۲۳، یوحنا ۱۳ : ۲۱ ـ ۳۰

۱۲ دَ پتیرے ډوډئ دَ اختر په وړُومبئ ورځ چه هغوئ دَ
فسح ګډورے قُربانولو، دَ عیسیٰ مُریدانو هغهٔ ته ووئیل چه
"ستا څهٔ مرضی ده چه مُونږ چرته لاړ شو چه ستا دَ پاره دَ
فسح دَ ګډُوری خوړلو تیاری وکړو؟"

۱۳ نو هغهٔ خپل دوه مُریدان دَ دے هدایاتو سره ولیږل،
"ښار ته لاړ شئ، یو سړے به ووینئ چه دَ اوبو منګے به
وړی، په هغهٔ پسے لاړ شئ. ۱۴ اَؤ هغه چه کُوم کور ته
ننوزی نو دَ هغه کور مالِک ته دا پیغام ورکړئ، چه اُستاذ
وائی چه زما اَؤ زما دَ مُریدانو دَ پاره دَ فسح دَ ګډُوری خوړلو
دَ پاره کُومه کوټه مُقرره شوے ده؟ ۱۵ هغه به تاسو ته یوه
لویه تیاره بالاخانه وښائی، زمُونږ دَ پاره هلته دَ فسح تیاریٔ
وکړئ."

۱۶ بیا مُریدان روان شول اَؤ هر کله چه ښار ته دَ ننه شول
نو هغوئ هر څهٔ هغه شان ومُوندل لکه چه هغهٔ ورته وئیلی
وُو، نو هغوئ دَ فسح تیاری وکړله.

۱۷ ماښام دَ دولسو مُریدانو سره عیسیٰ راغے. ۱۸ څهٔ
وخت چه هغوئ ډوډئ ته کښیناستل نو عیسیٰ ووئیل، "زَهٔ
تاسو ته دا وایم چه په تاسو کښے به یو په ما مُخبری کوی،
هغه یو چه ما سره ډوډئ خوری."

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١٩ په دے هغوئ غمژن شول اَؤ يو يو هغۀ ته ووئيل، ”يقيناً
چه زَۀ به نۀ يم؟“ ٢٠ هغۀ ورته ووئيل چه، ”دا په دولسو
کښے يو دے څوک چه ما سره په يوه تالئ کښے لاس
ښکته کوى. ٢١ اِبن آدم به هم داسے مړ شى لکه چه دَ هغۀ
په حقله په صحيفو کښے ليکلى شوى دى خو اَفسوس په
هغه سړى دے څوک چه به په اِبن آدم مُخبرى کوى! دَ هغه
سړى دَ پاره به دا ډيره غوره وه چه هغه هډو پيدا شوے نۀ
وے.“

## دَ عشأ ربانى مُقررول

متى ٢٦ : ٢٦ ـ ٣٠، لُوقا ٢٢ : ١۴ ـ ٢٠، اول کورنتيان ١١ : ٢٣ ـ
٢۵

٢٢ دَ خوراک په وخت عيسىٰ يوه ډوډئ راواخسته، شکر
ئے پرے وکړو اَؤ ما ته ئے کړه. په هغوئ ئے وويشله اَؤ
وئے وئيل، ”دا واخلئ، دا زما بدن دے.“

٢٣ بيا هغۀ يو کنډول راپورته کړو اَؤ دَ خُدائے شکر ئے
وويستو اَؤ هغوئ له ئے ورکړو اَؤ هغوئ ټولو ترے وڅښل.
٢۴ اَؤ بيا هغۀ ووئيل چه ”دا زما دَ وعدے وينه ده چه دَ
ډيرو خلقو دَ پاره توئيږى. ٢۵ يقيناً زَۀ تاسو ته دا وايم چه دَ
انګورو اوبۀ به زَۀ بيا تر هغے ورځے پورے هيڅ کله ونۀ
څښم تر څو چه زَۀ دَ خُدائے په بادشاهئ کښے تازه ونۀ
څښم.“

٢۶ دَ ثنا وئيلو نه پس هغوئ بهر ووتل اَؤ دَ ښونانو غرۀ ته
لاړل.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## دَ پطروس دَ اِنکار پيشن گوئی

متی ۲۶ : ۳۱ ـ ۳۵، لُوقا ۲۲ : ۳۱ ـ ۳۴، يوحنا ۱۳ : ۳۶ ـ ۳۸

۲۷ اَؤ عيسیٰ هغوئ ته ووئيل، "تاسو ټول به تيندک وخورئ
ځکه چه دا ليکلی شوی دی چه، "زَۀ به شپُون ووهم اَؤ ګډې
به خورې ورې شی." ۲۸ خو بيا هم چه زَۀ دوباره
پاڅولې شم نو زَۀ به له تاسو نه وړاندې ګليل ته لاړ شم."

۲۹ پطروس جواب ورکړو، "بل هر يو به تيندک وخوری خو
زَۀ به ئې ونۀ خورم."

۳۰ عيسیٰ ورته ووئيل، "زَۀ تا ته دا وايم چه نن، هم په دې
شپه دَ چرګ دَ بانګ نه دوه ځله اول به تۀ درې ځله زما نه
اِنکاری شې."

۳۱ خو هغۀ بيا بيا په دې زور ورکړو، "که چرې زَۀ تا سره
مړ هم شم خو له تا نه به چرې هم مُنکر نۀ شم."

اَؤ هغوئ ټولو هم دغه شان ووئيل.

## په ګيتسمنې کښې دُعا کول

متی ۲۶ : ۳۶ ـ ۴۶، لُوقا ۲۲ : ۳۹ ـ ۴۶

۳۲ کله چه هغوئ ګيتسمنې نُومې ځائې ته ورسيدل نو
عيسیٰ خپلو مُريدانو ته ووئيل، "تر څو چه زَۀ دُعا کوم تاسو
دلته کښينئ." ۳۳ اَؤ بيا ئې دَ ځان سره پطروس، يعقُوب اَؤ
يوحنا بوتلل، نو هيبت واخستو اَؤ ساه ډوبی پرې راغله. ۳۴
اَؤ هغۀ هغوئ ته ووئيل، "زما زړۀ دَ غمه چوی اَؤ مرګ ته

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نزدے یم. دلته ایسار شئ، بیدار اوسئ.“ ۳۵ بیا هغه لږ
وړاندے لاړو اَؤ په مزکه پریوتو اَؤ دُعا ئے وغوښتله، ”که دا
کیدے شی نو دا ساعت دِ له ما نه تیر شی.“ ۳۶ هغهٔ ووئیل،
”آبا،“ یعنے پلاره! ”ستا دَ پاره هر څهٔ مُمکن دی. دا دَ
مُصیبت پیاله له مانه لرے کړه، داسے نه لکه چه زَهٔ ئے
غواړم، داسے لکه چه تهٔ ئے غواړے.“ ۳۷ هغه بیرته راغے
اَؤ هغوئ ئے اُودهٔ ومُوندل. نو هغهٔ پطروس ته ووئیل،
”شمعُونه! اُودهٔ یئے څهٔ؟ آیا تهٔ یوے گینټے قدر له هم ویښ
نهٔ شوے پاتے کیدے؟ ۳۸ ټول ویښ اوسئ اَؤ دُعا کوئ چه
تاسو په آزمیښت کښے پرے نهٔ وزئ. رُوح خو تیار دے خو
بدن کمزورے دے.“

۳۹ یو ځل بیا هغه لاړو اَؤ هم هغه شان ئے دُعا وغوښته.
۴۰ چه بیرته راغے نو هغوئ ئے بیا اُودهٔ ومُوندل ځکه چه
دَ هغوئ سترگے درنے وے، اَؤ هغوئ په دے نهٔ پوهیدل چه
څهٔ جواب ورکړی.

۴۱ دریم ځل هغه راغے اَؤ هغوئ ته ئے ووئیل چه ”هغسے
لا اُودهٔ یئ اَؤ هغسے لا آرام کوئ؟ بس دے! وشوه، وخت
راغے، اِبن آدم گُناه گارانو ته حواله کیږی. ۴۲ پورته شئ،
ځئ چه ځُو! زما مُخبر نزدے راغلے دے.“

## په عیسیٰ مُخبری اَؤ دَ هغهٔ گرفتاری

متی ۲۶ : ۴۷ ـ ۵۶، لُوقا ۲۲ : ۴۷ ـ ۵۳، یوحنا ۱۸ : ۳ ـ ۱۲

۴۳ سمدستی چه لا عیسیٰ خبرے کولے یهوداه چه په
دولسو مُریدانو کښے یو وو، هغه اَؤ ډیر خلق چه تُورے اَؤ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کوتکے ورسره وے راخرګند شول. هغوئ مشرانو کاهنانو، دَ
شرعے عالمانو اَؤ اولسی مشرانو رالیږلی وُو. ۴۴ مُخبر دَ
هغوئ سره یو نخښه مُقرره کړے وه، ”هغه څوک چه زَهٔ
کښل کړم هغه دے. هغه ونیسئ اَؤ دَ ځان سره ئے په
حفاظت بوزئ.“

۴۵ کله چه دَئے هغه ځائے ته راورسیدو نو هغه سمدستی
وروړاندے شو اَؤ عیسیٰ ته ئے ووئیل، ”اُستاذه!“ اَؤ کښل
ئے کړو. ۴۶ بیا هغوئ هغه ونیوو اَؤ قابو ئے کړو. ۴۷ په
هغه خلقو کښے چه ولاړ وُو یو کس خپله تُوره راوویسته اَؤ
دَ مشر کاهن په نوکر ئے ګُذار وکړو اَؤ دَ هغهٔ غوږ ئے
پریکړو. ۴۸ بیا عیسیٰ ووئیل، ”آیا تاسو ما ډاکُو ګنړئ چه دَ
تُورو اَؤ کوتکو سره زما په نیولو پسے راوتلی یئ څهٔ؟ ۴۹
زَهٔ هره ورځ تاسو سره دَ خُدائے په کور کښے وم اَؤ تعلیم
مے درکولو خو تاسو ما ته لاس نهٔ وو راوړے. دا ځکه
وشول چه صحیفے پُوره شی.“ ۵۰ نو بیا دے مُریدانو
یواځے پریښودو اَؤ ټول ترے وتښتیدل.

۵۱ څوک چه ورسره وُو په هغو کښے یو ځوان وو چه دَ
مهینے لتړے دَ څادر لنګ ئے وهلے وو. ۵۲ هغوئ دَ هغهٔ دَ
نیولو کوشِش وکړو خو هغهٔ خپل دَ مهینے لتړے څادر
پریښودو اَؤ لغړ بربنډ وتښتیدلو.

## دَ عیسیٰ دَ جرګے په مخ کښے پیشی

متی ۲۶ : ۵۷ ـ ۶۸، لُوقا ۲۲ : ۵۴ ـ ۵۵، ۶۳ ـ ۷۱، یوحنا ۱۸ : ۱۳ ـ
۱۴، ۱۹ ـ ۲۴

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵۳ بیا هغوئ عیسیٰ دَ مشر کاهن کورته روان کړو چرته چه
مشران کاهنان، دَ شرعے عالمان اَؤ اولسی مشران ټول را
جمع کیدل. ۵۴ پطروس عن دَ مشر کاهن دَ غولی پورے
وریسے روستو روستو تلو اَؤ هلته هغه دَ نوکرانو سره
کښیناستو اَؤ اور ته ئے ځان تودوو. ۵۵ مشرانو کاهنانو اَؤ
ټولے جرګے دا کوشش وکړو چه دَ عیسیٰ په خلاف داسے
څۀ ګواهی پیدا کړی چه دَ مرګ حُکم پرے وکړی خو داسے
ګواهی ئے پیدا نۀ کړے شوه. ۵۶ ډیرو دَ هغۀ برخلاف دَ
دروغو ګواهی وکړه خو دَ هغو بیان دَ یو بل سره نۀ یو کیدلو.

۵۷ څنی پاځیدل اَؤ دَ هغۀ برخلاف ئے داسے دَ دروغو
ګواهی وکړه چه ۵۸ "مُونږ دَ دَۀ دَ خُلے نه دا آؤریدلی دی
چه زَۀ به دا دَ خُدائے کور ورانوم چه بنی آدمو ودان کړے
دے اَؤ په دریو ورځو کښے به بل داسے ودان کړم چه هغه
به په لاسُونو نۀ وی جوړ شوے." ۵۹ خو په دے خبره دَ
هغوئ په ګواهئ کښے یووالے نۀ وو.

۶۰ نو بیا مشر کاهن په خپل ځائے ودریدلو اَؤ دَ عیسیٰ نه
ئے پتوس وکړو، "دا ګواهان چه ستا خلاف څۀ اِلزامُونه
لګوی، دَ دے ستا سره څۀ جواب شته؟"

۶۱ خو هغه چپ پاتے شو اَؤ هیڅ جواب ئے ورنۀ کړو. بیا
مشر کاهن ترے تپوس وکړو، "آیا تۀ دَ تبارک الله زوئے
مسیح ئے څۀ؟"

۶۲ عیسیٰ ووئیل چه "زَۀ یم اَؤ تاسو به اِبن آدم دَ خُدائے
ښی لاس ته ناست اَؤ دَ آسمان په وریځو کښے په راتلو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ووينئ.“

۶۳ نو بيا مشر کاهن خپلې جامې وشلولې اَؤ وئې وئيل،
”دَ دے نه پس هم دَ نورو گواهانو څۀ حاجت شته؟ ۶۴
تاسو په خپله کُفر واؤريدو، تاسو په کښې څۀ وايئ؟“

هغوئ په شريکه فتوىٰ ولگوله اَؤ دَ قتل حُکم ئې پرې وکړو.

۶۵ چا په هغۀ تُوکل اَؤ په سُوکونو ئې وهلو اَؤ چغې ئې
وهلې چه ”پيشن گوئى وکړه!“ اَؤ دَ هغوئ نوکرانو هم په هغۀ
راباندې کړې.

## دَ پطروس اِنکار

متى ۲۶ : ۶۹ ـ ۷۵، لُوقا ۲۲ : ۵۶ ـ ۶۲، يوحنا ۱۸ : ۱۵ ـ ۱۸، ۲۵ ـ ۲۷

۶۶ په دے دوران کښې پطروس لا هغه شان په غولى
کښې وو. دَ مشر کاهن يوه خدمتگاره په هغه لار تيريده. ۶۷
چه هغه ئې اور ته په توديدو وليدو، نو هغې هغۀ ته وکتل اَؤ
وئې وئيل، ”تۀ خو هم دَ دے ناصرى عيسىٰ ملگرے وے.“

۶۸ خو هغه مُنکر شو اَؤ وئې وئيل، ”ما ته هيڅ پته نِشته، زَۀ
نۀ پوهيږم چه ستا مطلب څۀ دے.“ بيا هغه بهر ډيوډئ ته
لاړو.

۶۹ اَؤ هغې خدمت گارې هغه هلته بيا وليدو اَؤ ولاړو
خلقو ته ئې ووئيل، ”دَئې دَ هغۀ ملگرے دے.“ ۷۰ اَؤ هغه
بيا مُنکر شو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ناستو خلقو يو ځل بيا پطروس ته ووئيل، ”بے شکه تهٔ دَ
هغوئ نه يو ئے ځکه چه تهٔ دَ ګليل يئے.“ ٧١ په دے هغه په
ښيرو سر شو اَؤ په قسم سره ئے ووئيل، ”تاسو چه دَ کوم
سړی ذکر کوئ زَهٔ هغه نهٔ پيژنم.“

٧٢ بيا چرګ دويم ځل بانګ ووے اَؤ پطروس ته رایاد شو
چه عيسیٰ هغهٔ ته وئيلی وُو چه ”دَ چرګ دَ دوه ځله بانګ
وئيلو نه وړاندے به تهٔ زما نه درے ځله مُنکر شے،“ اَؤ دَ
هغهٔ اوښکے روانے شوے اَؤ په ژړا شو.

## عيسیٰ دَ پيلاطوس په مخ کښے

متی ٢٧ : ١ ـ ٢، ١١ ـ ١۴، لُوقا ٢٣ : ١ ـ ۵، يوحنا ١٨ : ٢٨ ـ ٣٨

**١۵** ١ هر کله چه سحر شو نو مشرانو کاهنانو، دَ
شرعے عالمانو اَؤ اولسی مشرانو په صلاح دا فيصله وکړه
اَؤ عيسیٰ ئے په ځولنو کښے وتړلو، بيا ئے هغه روان کړو،
پيلاطوس ته ئے حواله کړو. ٢ پيلاطوس دَ هغهٔ نه تپوس
وکړو چه ”تهٔ دَ يهوديانو بادشاه ئے څهٔ؟“

هغهٔ جواب ورکړو، ”تا په خپله ووے.“

٣ اَؤ مشرانو کاهنانو په هغهٔ ډير اِلزامُونه ولګول. ۴
پيلاطوس دَ هغهٔ نه بيا تپوس وکړو، ”آيا تهٔ په خپله صفايئ
کښے څهٔ وينا نهٔ لرے؟ تهٔ ګورے چه دوئ په تا څومره
اِلزامُونه لګوی.“

۵ خو پيلاطوس په دے خبره حيران شو چه عيسیٰ بل هيڅ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جواب ورنهٔ کړو.

## په عيسىٰ باندې دَ مرګ فتوىٰ

متى ۲۷ : ۱۵ ـ ۲۶، لُوقا ۲۳ : ۱۳ ـ ۲۵، يوحنا ۱۸ : ۳۹ ـ ۱۹ : ۱۶

۶ دَ اختر په موقع به دَ حاکم دا دستور وو چه دَ خلقو په
خوښه به ئې يو قيدى آزادوو. ۷ په دغه وخت کښې برابا
نومې يو مُجرم دَ باغيانو سره په قيد کښې وو چه دَ بغاوت
په وخت ئې قتل کړې وو. ۸ کله چه خلق دَ دستور په
مُطابق سوال له راغلل نو پيلاطوس جواب ورکړو چه ۹
”تاسو دا غواړئ چه زَهٔ دَ يهوديانو بادشاه تاسو ته آزاد کړم؟“
۱۰ ځکه چه هغهٔ ته دا پته وه چه هغوئ عيسىٰ تش په حسد
هغهٔ له راوستې دې.

۱۱ خو مشرانو کاهنانو خلق ولمسول چه هغهٔ ته ووائى چه
”عيسىٰ نه بلکه برابا راپرېږده.“ ۱۲ پيلاطوس بيا هغوئ ته
ووئيل چه ”کُوم سړى ته چه تاسو دَ يهوديانو بادشاه وايئ، دَ
هغهٔ سره څهٔ وکړم؟“

۱۳ هغوئ چغې کړې، ”هغه په سولئ وخيژوه!“

۱۴ پيلاطوس تپوس وکړو چه ”ولې، هغهٔ څهٔ بد کار کړې
دې؟“

خو هغوئ نورې هم چغې تېزې کړې، ”هغه په سولئ
وخيژوه!“

۱۵ نو پيلاطوس دَ خلقو دَ تسلئ دَ پاره برابا ور آزاد کړو اَؤ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دَ عیسیٰ دَ پاره ئے حُکم وکړو چه په کروړو دِ ووهلے شی
اَؤ په سولئ دِ کړے شی.

## دَ سپاهیانو په عیسیٰ پورے ټوقے کول

متی ۲۷ : ۲۷ ـ ۳۱، یوحنا ۱۹ : ۲ ـ ۳

۱۶ بیا سپاهیانو هغه غولی ته دَ ننه کړو، دَ حاکم دَ قلعه ټوله
پلټنه ئے راجمع کړه. ۱۷ عیسیٰ ته ئے سرے جامے
واغوستے اَؤ دَ ازغو تاج ئے ور په سر کړو. ۱۸ اَؤ بیا ئے
هغهٔ ته په دے ټکو سلامی کوله، "اَئے دَ یهودیانو بادشاه!
سلام." ۱۹ بیا هغوئ هغه په بینت په سرسر وهلو اَؤ تُوکانی
ئے پرے تُو کړل اَؤ بیا هغهٔ ته په ګوډو شول اَؤ دَ ټوقو
سجدے ئے ورته وکړلے. ۲۰ کله چه هغوئ خپلے ټوقے
بس کړلے نو دَ هغهٔ نه ئے هغه سرے جامے لرے کړے اَؤ
خپلے ئے ورته واچولے. بیا هغوئ هغه بهر ته بوتلوچه په
سولئ ئے کړی.

## دَ عیسیٰ په سولئ کول

متی ۲۷ : ۳۲ ـ ۴۴، لُوقا ۲۳ : ۲۶ ـ ۴۳، یوحنا ۱۹ : ۱۷ ـ ۲۷

۲۱ دَ سکندر اَؤ روفوس پلار شمعُون څوک چه دَ کیرینی
اوسیدُونکے وو دَ میرے نه په هغه لاره راتیریدو اَؤ هغوئ
هغه په بیګار ونیوو چه دَ عیسیٰ سولئ یوسی. ۲۲ هغوئ
عیسیٰ ګولګتا نُومے ځائے ته راوستو چه مطلب ئے دَ کُپړئ
ځائے دے. ۲۳ هغهٔ ته ئے دَ مُر سره ګډ کړی شراب
ورکړل خو هغهٔ ونهٔ څښل. ۲۴ بیا هغوئ هغه په سولئ
پورے وتړلو اَؤ دَ هغهٔ جامے ئے په خپلو کښے ویشلے،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هسک ئے پرے واچوو چه کُوم شے دَ چا شی. ۲۵ دَ
سولئ وخت دَ سحر نهه بجے وو. ۲۶ اؤ دَ هغۀ خلاف
لګولے شوے اِلزام چه په تخته ئے لیکلے وو، داسے وو،
”دَ یهودیانو بادشاه.“ ۲۷ دوه ډاکوان ئے هم دَ هغۀ سره په
سولئ کړی وُو، یو دَ هغۀ ښی لاس ته اَؤ بل دَ هغۀ ګس لاس
ته. ۲۸ دغه شان دَ صحیفو دا پیشن ګوئی صحیح ثابته شوه
چه ”هغه دَ مُجرمانو سره یو ځائے شو.“

۲۹ په لاره تیریدُونکو هغۀ ته کنځلے کولے، هغوئ چغے
کړے، سرُونه ئے وخوزول چه ”واه! تۀ چه دَ خُدائے کور
نړوے اَؤ په دریو ورځو کښے به ئے بیا جوړوے! ۳۰ دَ
دے سولئ نه راکُوز شه اَؤ خپل ځان بچ کړه!“

۳۱ دغه شان مشرانو کاهنانو اَؤ دَ شرعے عالمانو هم په
خپلو کښے وریورے ټوقے کولے اَؤ وئیل ئے چه ”هغۀ خو
نور خلق بچ کول خو خپل ځان نۀ شی بچ کولے. ۳۲
پریږدئ چه مسیح، دَ اِسرائیلو بادشاه، اوس دِ دَ سولئ نه
راکُوز شی. که مُونږ دا ووینُو نو ایمان به پرے راؤړُو.“

تر دے چه هغه ځوک چه دَ هغۀ سره په سولئ شوی وُو
هغوئ هم هغه ملامتولو.

## دَ عیسیٰ مرګ

متی ۲۷ : ۴۵ ـ ۵۶، لُوقا ۲۳ : ۴۴ ـ ۴۹، یوحنا ۱۹ : ۲۸ ـ ۳۰

۳۳ دَ غرمے مال په ټوله مزکه تیارۀ راخوره شوه اَؤ دَ کُوز
ماسپښین تر دریو بجو پورے وه. ۳۴ اَؤ درے بجے عیسیٰ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په زوره چغے کړے چه "ایلی! ایلی! لما شبقتنی؟" چه
ترجمه ئے دا ده، "زما خدایه! زما خدایه! تا زهٔ ولے
پرېښودلم؟" ۳۵ ځنے ولاړو خلقو چه دا واؤرېدل نو وئے
وئیل، "وګورئ! هغه اِلیاس ته نعرے وهی." ۳۶ یو سړی دؤ
کړو، یو اسفنج ئے دَ سرکے نه ډک کړو اَؤ دَ هغهٔ شُونډو ته
ئے دَ یوے لښتے په سر ونیولو اَؤ هغهٔ ووئیل چه "ګورُو چه
اِلیاس راشی اَؤ دَئے راکُوز کړی."

۳۷ بیا عیسیٰ یوه کریکه وویسته اَؤ ساه ئے ورکړه.

۳۸ اَؤ دَ خُدائے دَ کور پرده دَ یو سر نه بل سر ته دوه ټوټے
شوه. ۳۹ اَؤ کُوم صوبه دار چه هغهٔ ته مخامخ ولاړ وو چه
هغهٔ ولیدل چه هغهٔ څنګه ساه ورکړه نو وئے وئیل، "رښتیا
دی چه دا سړے دَ خُدائے زوئے وو!"

۴۰ یو څو ښځے هم هلته موجُودے وے اَؤ دَ ورایه ئے
ننداره کوله. په هغوئ کښے مریم مګدلینی، دَ کشر یعقُوب اَؤ
یوسیس مور مریم اَؤ سلومی وے. ۴۱ څهٔ وخت چه هغه په
ګلیل کښے وو نو دوئ ټولے دَ هغهٔ سره وے اَؤ خدمت ئے
ورله کاوو اَؤ نورے ډیرے داسے وے څوک چه دَ هغهٔ سره
بیتُ المُقدس ته راغلے وے.

## دَ عیسیٰ ښخول

متی ۲۷ : ۵۷ ـ ۶۱، لُوقا ۲۳ : ۵۰ ـ ۵۶، یوحنا ۱۹ : ۳۸ ـ ۴۲

۴۲ اوس ماښام شوے وو اَؤ هر کله چه دا دَ سبت نه
وړُومبئ دَ تیارئ ورځ وه، ۴۳ دَ اریمتیه یُوسف نومے یو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سړے راغے ځوک چه دَ جرګے یو عزتمن غړے وو اَوُ هغه
سړے چه دَ خُدائے دَ بادشاهئ دَ راتلو په اِنتظار وو، په زړه
ورتیا سره پیلاطوس ته لاړو اَوُ دَ عیسیٰ لاش ئے ترے
وغوښتو. ۴۴ پیلاطوس په دے خبر آوُریدو حیران شو چه
هغه بیا مړ هم دے، نو هغهٔ صوبه دار راوغوښتو اَوُ تپوس
ئے ترے وکړو چه "دَ هغهٔ ډیر ساعت کیږی چه مړ دے؟"
۴۵ اَوُ هر کله چه هغهٔ دَ صوبه دار بیان واوُریدو نو هغهٔ
یُوسف له اِجازت ورکړو چه لاش یوسی. ۴۶ بیا یُوسف
مهینه لټه راوُړه، هغه ئے دَ سولئ نه راکُوز کړو اَوُ په کفن
کښے ئے ونغښتو، بیا ئے هغه په ګټه کښے په کنستی ګنبد
کښے کیښودو اَوُ یو لوئے کاڼے ئے دَ ګنبد خُلے ته
راوررغړوو. ۴۷ اَوُ مریم مګدلینی اَوُ دَ یوسیس مور مریم هغه
ځائے ولیدو اَوُ هغه ځائے ئے په نخښه کړو چه هغه ئے په
کښے ایښے وو.

## دَ عیسیٰ بیا ژوندے کیدل

متی ۲۸ : ۱ ـ ۸، لُوقا ۲۴ : ۱ ـ ۱۲، یوحنا ۲۰ : ۱ ـ ۱۰

۱۶ ۱ هر کله چه دَ سبت ورځ تیره شوه، مریم
مګدلینی، دَ یعقُوب مور مریم اَوُ سلومی خوشبویه تیل په بیعه
واخستل اَوُ نیت ئے وکړو چه ورشی اَوُ په عیسیٰ ئے
واچوی. ۲ اَوُ دَ اِتوار په ورځ سحر وختی دَ نمر راختو نه
لږ وروستو هغوئ ګنبد ته راغلے. ۳ هغوئ په خپلو کښے
دے سودا اخستے وے چه "مُونږ ته به دَ ګنبد دَ خُلے نه
کاڼے ځوک ورغړوی؟" ۴ خو چه هغوئ پورته وکتل نو
ځهٔ ګوری چه هغه کاڼے چه ډیر غټ وو دَ مخکښے نه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

رغړېدلے وو. ۵ هغوئ چه گنبد ته ورننوتے، نو يو ځوان
ئے وليدو چه ښى اړخ ته ناست وو اَؤ سپينه چُوغه ئے
اغوستے وه اَؤ هغوئ اريانے دريانے شوے.

۶ خو هغهٔ هغوئ ته ووئيل، ”دَ څهٔ نه وېرېږئ مه، تاسو
عيسىٰ ناصرى لټوئ څوک چه په سولئ کړے شوے وو.
هغه بيا پورته کړے شوے دے، هغه دلته کښے نِشته. گورئ!
دا هغه ځائے دے چه هغه ئے په کښے ايښے وو. ۷
لاړے شئ، دَ هغهٔ مُريدانو اَؤ پطروس ته دا پيغام ورسوئ چه
هغه ستاسو نه وړاندے گليل ته روان دے، تاسو به هغه هلته
ووينئ لکه چه هغهٔ تاسو ته وئيلى وُو.“

۸ نو هغوئ بهر ووتے اَؤ دَ گنبد نه په تيښته لاړے ځکه چه
هغوئ ډېرے هيبت اخستے وے. هغوئ هيچا ته هم غږ ونهٔ
کړو ځکه چه هغوئ وېرېدے.

## دَ عيسىٰ مريم مگدلينى ته ظاهرېدل

متى ۲۸ : ۹ ـ ۱۰، يوحنا ۲۰ : ۱۱ ـ ۱۸

۹ کله چه عيسىٰ دَ اِتوار په سحر دَ مړو نه پاڅولے شو نو
اول مريم مگدلينى ته ښکاره شو دَ چا نه چه هغهٔ اُووهٔ پيريان
لرے کړى وُو. ۱۰ هغه لاړه اَؤ دَ هغهٔ په وير ژړا سر غمژنو
مُريدانو ته ئے خبر ورکړو. ۱۱ خو چه هغوئ دا واؤرېدل
چه ژوندے شوے دے اَؤ هغے ليدلے دے نو باور ئے پرے
ونهٔ کړو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## دَ عیسیٰ خپلو مُریدانو ته ظاهریدل

لُوقا ۲۴ : ۱۳ ـ ۳۵، متی ۲۸ : ۱۶ ـ ۲۰، لُوقا ۲۴ : ۳۶ ـ ۴۹، یوحنا
۲۰ : ۱۹ ـ ۲۳، اَعمال ۱ : ۶ ـ ۸

۱۲ پس له هغے هغه په یو بل شکل کښے په نورو دوؤ
کسانو باندے پیښ شو څوک چه میرے ته په لاره روان وُو.
۱۳ هغوئ هم لاړل اَؤ دا خبر ئے نورو ته ورسوو خو بیا هم
هیچا پرے یقین ونهٔ کړو.

۱۴ آخر هغه په یوولسو مُریدانو په هغه وخت ښکاره شو چه
هغوئ ډوډئ ته ناست وُو، اَؤ هغهٔ هغوئ په سختو زړُونو اَؤ
بے یقینئ ملامته کړل ځکه چه هغوئ دَ هغه خلقو په وینا
یقین نهٔ وو کړے چا چه هغه دوباره ژوندے لیدلے وو. ۱۵
بیا هغهٔ هغوئ ته ووئیل، "دَ تمامے دُنیا هرے سیمے ته لاړ
شئ اَؤ زما دَ زیری وعظ ټول مخلوق ته وکړئ. ۱۶ هر
څوک چه په دے ایمان راؤړی اَؤ بپتسمه واخلی نو هغه به
خلاصُون بیا مُومی، اَؤ هر څوک چه پرے ایمان رانهٔ وړی
هغه به مُجرم شی. ۱۷ دَ ایمان په راؤړلو به ترے دا مُعجزے
څرګندیږی چه زما په نُوم به پیریان لرے کوی اَؤ په نا آشنا
ژبو به خبرے کوی. ۱۸ که هغوئ مارانو له لاس وروړی یا
زهر وخوری نو هغوئ ته به ضرر نهٔ رسی، اَؤ په کُومو
ناروغو چه هغوئ لاس کیږدی، هغوئ به جوړ شی."

## دَ عیسیٰ آسمان ته ختل

لُوقا ۲۴ : ۵۰ ـ ۵۳، اَعمال ۱ : ۹ ـ ۱۱

۱۹ دَ هغوئ سره دَ خبرو کولو نه پس مالِک عیسیٰ آسمان

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ته پورته کړے شو اَؤ هغه دَ خُدائے ښی طرف ته کښیناستو.
۲۰ اَؤ هغوئ ووتل اَؤ کلام ئے آؤروو اَؤ مالِک دَ هغوئ
سره کار کاوو اَؤ کلام ئے دَ هغه مُعجزو په وسیله چه هغوئ
کولے، ثابتولو.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.6699
pashtobibles.org © عام ۱۹۹۶
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.